# سوځېدلي ځمکه

( لنډکي هنري نثرونه )

Ketabton.com

ګل رحمان رحماني

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوځېدلې ځمکه

**( لنډکي هنري نثرونه)**

**لیکوال:**

**ګل رحمن رحماني**

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: سوځېدلې ځمکه

لیکــوال: ګل رحمن رحماني

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼه: www.melitahrik.com

ډیزایـن: ضیاء ساپی

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۵۸)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

د خپلې هستۍ سوځېدلې خاورې ته!
هغه بادونو ته چې ستا د وجود سوځېدلې
خاوره يې زما له سترګو پناه کړه !
او تا ته چې ځواني دې د پردي وطن خاورو او
سختيو کې وبايلله او نازنين وطن ته پټې
سترګې را ستون شوې.

رحماني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک

## ګڼه ــــــــــــــــــــ سرلیک ـــــــــــــــ مخ

i. د یوه سپېڅلي وجدان شین غږ الف
ii. رحماني د ادبي ټوټې ګلځانګې د پاللو په ازمون کې و
iii. رحماني د خپلو ادبي طرحو په سوځېدلي ځمکه ع
iv. لوړ خیال ص
v. زما د ژوند سوځېدلې ځمکه ت
۱- د شکراني سجده ------------------------------------------ ۱
۲- شین خوب ------------------------------------------ ۳
۳- سوځېدلي ځمکه ------------------------------------------ ۴
۴- پرښته که شیطان! ------------------------------------------ ۶
۵- پرښته ------------------------------------------ ۱۰
۶- د میني تاج ------------------------------------------ ۱۱
۷- د سمڅې ګل ------------------------------------------ ۱۲
۸- د مرغانو بیه ------------------------------------------ ۱۳
۹- پېغور ------------------------------------------ ۱۴
۱۰- ته او موسمونه ------------------------------------------ ۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۱- اوښکې او باران ---------- ۱۷
۱۲- زما چیغې ---------- ۱۹
۱۳- لایزاله سندره ---------- ۲۱
۱۴- نامریه وړانګه ---------- ۲۲
۱۵- تیارې او دعاګانې ---------- ۲۳
۱۶- ناوړه غچ ---------- ۲۵
۱۷- تودوخه ---------- ۲۶
۱۸- د اوبو دېوال ---------- ۲۷
۱۹- خاموشه چیغې ---------- ۲۸
۲۰- د فطرت انتقام ---------- ۳۰
۲۱- د غرور احساس ---------- ۳۲
۲۲- د مرغانو نړۍ ---------- ۳۴
۲۳- سره پاڼه ---------- ۳۵
۲۴- د ماتېدو غږ ---------- ۳۶
۲۵- باور ---------- ۳۷
۲۶- د خدای کور ---------- ۳۸
۲۷- څېرې ---------- ۳۹
۲۸- د خوښۍ ورځ ---------- ۴۲
۲۹- د ښارمانۍ ---------- ۴۴
۳۰- د سکروټو په منځ کې ---------- ۴۷
۳۱- هغه او لمر ---------- ۴۸
۳۲- زما وطنه! ---------- ۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳۳- د ژوند بېړۍ ---------- ۵۴
۳۴- سوې پاڼې ---------- ۵۶
۳۵- مرګونې دره ---------- ۵۸
۳۶- جزا ---------- ۵۹
۳۷- د شاعر مقام ---------- ۶۰
۳۸- یوه شپه ---------- ۶۱
۳۹- وروستی ماښام ---------- ۶۴
۴۰- اتله ---------- ۶۶
۴۱- غرنی ګل ---------- ۶۷
۴۲- مینه او دعا ---------- ۶۹
۴۳- نالوستې مینه ---------- ۷۰
۴۴- شېبه ---------- ۷۱
۴۵- جنتې وږمه ---------- ۷۲
۴۶- پټه ښکلا ---------- ۷۳
۴۷- کاغذي ګلونه ---------- ۷۴
۴۸- اې زما ستونزو! ---------- ۷۵
۴۹- انځور ---------- ۷۸
۵۰- ستا لپه ---------- ۷۹
۵۱- وچ شوی ګل ---------- ۸۰
۵۲- چې پسرلی شي ---------- ۸۱
۵۳- د خدای زور ---------- ۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library


۵۴- زما خوښي ---------- ۸۳
۵۵- انسان او خدای ---------- ۸۴
۵۶- ښځه ---------- ۸۶
۵۷- د ازادۍ ورېمه ---------- ۸۷
۵۸- په خدای دې سپارم ---------- ۸۸
۵۹- دروغ ---------- ۸۹
۶۰- سندرغاړې ---------- ۹۰
۶۱- ژوندۍ کیسه ---------- ۹۱
۶۲- ټکنالوژي ---------- ۹۲
۶۳- لومړیتوب ---------- ۹۴
۶۴- ښکلا او ملنګ ---------- ۹۵
۶۵- توپیر ---------- ۹۶
۶۶- سولې ته! ---------- ۹۷
۶۷- اړیکه ---------- ۹۸
۶۸- شاعرانه عظمت ---------- ۹۹
۶۹- معصوم زړه ---------- ۱۰۰
۷۰- هوسۍ او ښکاري ---------- ۱۰۱
۷۱- شیطاني جالونه ---------- ۱۰۲
۷۲- وړکتون ---------- ۱۰۴
۷۳- کاذب غرور ---------- ۱۰۷
۷۴- تږې سترګې ---------- ۱۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

٧٥- د واکمن تصویر------------------------------------------۱۰۹
٧٥- زرین خپرکی-------------------------------------------۱۱۱
٧٦- سوله او ماشوم----------------------------------------۱۱۲
٧٧- شکایت-----------------------------------------------۱۱۵
٧٨- هیله-------------------------------------------------۱۱٦
٧٩- توپیري تفکر------------------------------------------۱۱٧
٨٠- توپیرونه---------------------------------------------۱۱٨
٨١- خبرې-----------------------------------------------۱۲۰
٨٢- تاریخي پاڼه------------------------------------------۱۲۱
٨٣- شاهانه تاج-------------------------------------------۱۲۲
٨٤- بوډا او دوې ورځې-----------------------------------۱۲۳
٨٥- اووه ورځې، اووه فریادونه----------------------------۱۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د يوه سپېڅلي وجدان شين غږ

د ګران رحماني شاعرانه او منثور شعرونه:

ځيني ادبپوهان وايي: ښکلی نثر هغې ښايسته ماڼۍ ته ورته دی چې معمارپکې يوه خښته هم بېځايه او بې هدفه کارولې نه وي. نثر چې څومره ساده، سليس او روان وي؛ پکې له پېچليو او بې خونده اوږدو جملوڅخه ډډه شوې وي، هومره لوستونکی ژرځانته راکاږي او د ليکوال د ليکنې په مقصد يې ژر سرخلاصېږي.

يو شمېر ليکولان دومره اوږدې جملې کاروي چې کله يې لوستونکی د جملې پای او يا خبر ته رسېږي؛ مبتدا ترې هېره شوې وي، لوستونکی مجبوره کېږي چې لوستل شوې جمله بيا ځلی ولولي، څوپوره مانا ترې واخلي. د ورته کلماتو، انځورونو او تشبېهاتو تکرارهم د نثر د کمزورۍ سبب کېږي، په نثر کې هڅه په کارده چې نوي کلمات او تشبهات وکارول شي، ددی کارد پاره ليکوال بايد په خپله ژبه مسلط اودلغاتونو زېرمه يې زياته وي

زموږ يو شمېر ليکوالان چې کله غواړي د يوې موضوع په اړه څه وليکي، نولومړی پری يوه لوېشت مقدمه او سريزه ليکي له هغه وروسته چې کله اصلي موضوع ته راګرځي، لوستونکی، يې پاتې مقاله اويا ليکنه کات کړي او په تاخچه کې يې ايښې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکوال ته په کار ده چې خپلې خبرې سیده له اصلي موضوع څخه پیل کړي، بې ځایه مقدمې او خبرې دې نه لیکي، چې د لوستونکی دوخت ضایع کېدو او زړه تنګی سبب کېږي. داستونزه د یوشمېرشاعرانو په ازادو او بې قافیو شعرونوکې هم لیدل کېږي.

یوچا ټوکه کوله چې د وخت د تنګیسا په وجه مې د یوشاعرله ازاد شعر څخه ځو کرښې وایستي او وروسته مې خپرې کړې، زماپه دې کارسره نه د شعر محتوا کې بدلون راغی او نه هم پرې شاعر پوه شو چې د شعر یوه برخه یې ابستل شوې وه .

له موضوع سره د نثرتناسب هم ترټولومهمه خبره ده، هره موضوع ځانته ځانګړې نثراو ژبه غواړي، که چېرې تاسو د زرکاله پخواد یوی پېښې په هکله کیسه جوړوی، نود کرکټرونو ژبې یې د اوسنیوخلکو له خبرو سره په توپیر وکاروئ. د یوی جنایي زېږې پېښې نثر د طنز او فکاهي له نثرسره پوره توپیراوخپل ځانګړی تناسب ولري.

شاعرانه او عاطفي موضوع ګانې بویه ځانته نثر، فضا اوخوند ولري، زیات پکې له هغو کلماتو استفاده وشي چې د احساساتوپه بیان کی ډېره مرسته کولی شي. د ژبې عفت خو حتی د ښکنځلو په وخت کې هم مراعات او وساتل شي. بله خبره چې یادول یې بیاهم ضروري ګڼم، هغه په هنري نثرکې د ایجاز مسئله ده.

د ځولنډو کلماتو په واسطه د یولوی مطلب بیانولوته ایجاز وایي، چې لیکوال یې باید هروخت په پام کې ونیسي، د هرې موضوع په غوره کولوکې د لوستونکي ذوق باید اوباید په پام کی ونیول شي، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ يې خلکوته ليکو او خلک هم زموږه هغه خبرې اوموضوع ګانې لولي اواوري چې دهغوی له شخصي او ټولنيز ژوند او اړتياوو سره مستقيم تړاو اود ستونزو په کمولوکې مرسته وکولی شي.

لوستونکی اواوربدونکی ډېرنازولی وي ، په ډېرې بې پروايۍ سره د يوچا اثرليرې غورځوی. هغوی ته دامهمه نه ده چې ليکوال په دې ليکنې اويا په دې خپرونې څومره خواري کړې ده، هغوی يوازې اويوازې خپل ذوق خړوبول غواړي اوبس ! نوليکوال ته پکاردی چې دوخت له تقاضواوغوښتنوسره سم موضوع ګانی انتخاب کړی ،موږته دا نه دی په کار چې پوه شو چې ايا په مريخ کې اوبه شته اوکه نه ؟

موږته مهمه داده چې پوه شو څنګه کولی شو د اوسنيو ستونزو څخه خلاصی او په مشکلاتو لاسبری پيداکړو اود ژوند سالموامکاناتوڅخه ګټه واخلو؟ له ماخخه خبرې له اصلی موضوع څخه ځکه بلې خواته اوږدې شوې چې غوښتل مې په همدې پلمې ځينو هغو نويو ليکوالوته خپل غږ ورسوم، چې غواړي نوې ليکنې وکړي او په دی برخه کې د پرمختګ په تمه دي، هيله ده بخښنه به راته کوئ.

ګرانه لوستونکيه !

ستا مخې ته د يوه داسې ځوان اوتکړه ليکوال د زړه په وينوليکل شوې هنري ټوټې پرتې دي، چې په هرې يوې کې يې د ښه نثرليکلو قواعد مراعات شوي اوترپايه يې خپله شاعرانه فضا او خوند ساتلی دی. زموږ دغه ګران ليکوال ګل رحمن رحماني دی.لوی خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ج" ورته وچت لاس او پوره استعداد ورکړی دی،لیکنې یې د نقاشۍ د ګرانبیه تابلوګانو په څېر ارزښت او خوند لري.

لیکوال په خپل وچت قلم او نازکې طبعې سره د شعر او نثر ترمنځ پوله رنګه کړې او د وخت د اړتیا او غوښتنو پربنسټ یې منثورشعرونه لیکلي دي اوهغه د چا خبره په هسې اوبې ارتباطو خبرویې خپلې لیکنې دا خوا اوهغه خوا نه دي غځولي.

ژبه یې ساده خوږه اوبې تکلفه ده، د موضوع په غوره کولو کې یې ډېردقت کړی دی، خپلو لیکنو ته یې داسې موضوع ګانې انتخاب کړې چې د هروخت اوزمانې په پیرکې ترې ګټه اخیستیل کېدای شي اوپه وخت او په یوه ځانګړي نظام پورې تړلي شیان یې نه دي راخیستي.

ځینې موضوعګانې خوداسې وي، چې د ټاکلي وخت او زمان له تېرېدو وروسته خپل هویت او ارزښت دلاسه ورکوي، خو د ګران رحماني په لیکنو کې دې خبرې ته ډېره توجه شوې او په یوه وخت او نظام پورې له تړلیو موضوع ګانو څخه یې ډده کړې ده.

کلمات یې ډیرښکلي او د موضوع د نثر له تناسب سره سم غوره کړي دي، په حقیقت کې دغه درانه لیکوال د دغو هنري پنځونو دلارې د یوه سپېڅلي اوپاک وجدان شین غږ په خورا سوزمن انداز وچت کړی دی.
دلته یې ما د څولیکنو څخه یوشمېرکرښې را اخیستي دي چې دلیکوال د لوړو عاطفي غبرګونونو اواحساساتو ثرګندونه کوي او له دې څو کرښو یې د لیکوالۍ پوره جاج او اندازه لګولی شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ته ولاړې، پرته له دې، چې زما چيغې او په سترګو کې ولاړې اوښکې وګورې. زما فريادونه له تا نه وروسته په هغه درو اوغرونو کې له ماسره يواځې پاتې شول"

"زموږ سترې ميني هم د سوځېدلې ځمکې بوی اخيستی او د تودوخې په يوه وړوکې دايره کې راګير يو"

"ما له خپلو ټولو حواسو سترګې جوړې کړې، چې وخت مې ستا له ننداري پرته په بل څه تېر نه شي"

.... کاش چې اوس مې هم کينې او حسادتونه د ماشومتوب غوندې وی، چې يوه شېبه وروسته را څخه هېرېدلی او د دښمن په نوم مې هېڅ هم نه پېژندلی. "

"د باران به څاڅکو کې به زما اوښکې هم څوک نه ګوري او په دعا کې به مې د لاسونو لړزه هم د باران او سړو له امله ګڼي. هو زما ملګريه! ته هېڅ وخت هم د هېرېدو نه يې، ارام خوب وکړه. "

په پای کې ګران ليکوال او شاعر رحماني ته د لا برياليتوبونو هيله کوم، خدای دی نورهم توفيق ورکړي چې په دې برخه کې کار وکړي او خپل بډای خو فقير ادب ته هنري ډالۍ ورپه برخه کړي.

نورمحمد لاهو

۲۰۱۴ کال، مې، المان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رحماني د ادبي ټوټې ګلځانګې

# د پاللو په ازمون کې

نه پوهېږم له کوم ځايه يې پيل کړم؟ د ښه نثر پر ځانګړنو او ښېګڼو وغږېږم، د ادبي ټوټې پر تاريخي شاليد، معيارونو او په پښتو ادب کې يې د ترويج او پراختيا په اړه خبرې وکړم او په رڼا کې يې د ښاغلي ګل رحمن رحماني ددې ټولګې د ادبي ټوټو په اړه د نظر څرګندونه وکړم.

په لږ عمر کې د ښاغلي رحماني پر زده کړو، د ژورنالستيکو فعاليتونو په ګډون د هغه په ښېلا ښېلو هڅو، هنري، ادبي، څېړنيزو، تخليقي او ژباړل شوو اثارو تم شم او که ....

رحماني په ننګرهار کې د ادب او ښوونې د سپېڅلې لارې يو ژمن لاروی و چې زما د معنوي پېژنګلوي مزی ورسره غوټه شو او تر ننه هماغسې غوټه شوی او لا پسې ټينګ او کلک پاتې شوی دی.

رحماني هماغه مهال سربېره پردې چې په ښوونيز ډګر کې هڅاند او لاسبری ځوان و، د ژورنالېزم، شعر، ازادې مطالعې او د نورو ځوانانو په روزنه کې يې هم مخکښه او رغنده ونډه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا هڅې، احساس او له پوهې سره د هغه بې کچه مینه او ربښتینې لېوالتیا وه چې نن په لږ عمر کې د دومره بېلابېلو ګڼو چاپو او ناچاپو اثارو خاوند دی چې زموږ ډېری علمي کادرونه به د ژوند ترپایه دومره بریاوو ته ونه رسېږي.

له دې حقیقته انکار نه شي کېدای چې زموږ ډېری علمي کادرونه په خپلو اړوندو مسلکي برخو کې ډېرې بریاوې ترلاسه کړي او د هېواد بې شمېره بچي یې په ښه توګه روزلي او ټولنې ته یې وړاندې کړي دي، خو متاسفانه له ډېریو نه یې داسې اثار ټولنې ته نه دي پاتې شوي چې راتلونکی نسل د هغه په نه شتون کې هم ترې د خپلې پوهې او وړتیا د پیاوړتیا او معلوماتو د پراختیا په موخه اړینه ګټه پورته کړي.

له نېکه مرغه ښاغلي رحماني په کم عمر کې په بېلابېلو برخو کې د ګټورو اثارو داسې راڼه څراغونه راتلونکي نسل ته پرېښودل، چې په رڼا کې به یې د پوهې، هنر او ادب په لارو کې د یون پرمهال له تیندکونو او ټکرونو خوندي وي او ډاډمن او ګټور مزلونه به وهي. رحماني لکه موج هیڅ کله هم ارام نه دی پاتې شوی او په ارامېدو کې یې خپله نابودي لیدلې ده، له همدې کبله تل هڅاند او څپاند پاتې شوی او لا هم په دې ډګر کې نه ستړي کېدونکي رغند او ګټور ګامونه پورته کوي.

دادی د همدغو روانو او نه تم کېدونکو هڅو په بهیر کې نن د ښاغلي رحماني نوی اثر «سوځېدلې ځمکه» ستاسې مبارک لاسونه ښکلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوځېدلي ځمکه د ښاغلي ګل رحمن رحماني د ادبي ټوټو نوی اثر دی، چې پکې په ټولیز ډول شاوخوا ۷۰ ادبي ټوټې رانغاړل شوې دي.

که څه هم ادبي ټوټه په پښتو ادب کې نوې نه ده او د ترلاسه شوو معلوماتو له مخې دغه هنري ژانر د شلمې پېړۍ له لومړیو نه په پښتو ادب کې رواج موندلی او دادی ددې هنري ګلورین ژانر ګلځانګه له راحت زاخیلي نه تر رحماني پورې راغزېدلې او وخت په وخت ډېریو کلاسیکو، منځنۍ دورې او معاصرو لیکوالو پاللې او ښکلي رنګین ګلونه یې پکې ټوکولي دي، خو همداراز چې له یوه پلوه هر ارزښت او حرکت تل د پرمختګ او تکامل په حال کې وي او له بل لوري د هر شاعر او لیکوال د ژوند زمانه، پېښې او حالات له بل سره توپیر لري او هر یوه په خپلو شعرونو او لیکنو کې د منځپانګې له پلوه په بېلابېلو سیاسي، ټولنیزو او نورو برخو کې د خپلې زمانې بېلابېلې موضوعګانې، پېښې او مفاهیم رانغاړي، نو د ادبي ټوټې په برخه کې هم له راحت زاخیلي نه تر رحماني پورې د تکامل او منځپانګې له پلوه جوت مانیز او جولیز توپیرونه ترسترګو کېږي.

ترکومه ځایه چې ما په بېلابېلو برخو کې د ښاغلي رحماني بېلابېل اثار او پنځونې لوستي دي، دی د «هنر د ژوند لپاره» فلسفې ژمن لاروی دی، د رحماني په ټولو هنري او ادبي تخلیقي، څېړنیزو او ژباړل شوو اثارو کې دا انساني هدف او احساس په ډېر رښتیني ډول پالل شوی، د رحماني له

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثارو په جوته توګه څرګندېږي چې هغه په تحقیقي، تخلیقي او ژباړې برخه کې د ې اصل ته ډېره جدي پاملرنه کړې ده.

رحماني د شعر په ګډون له هرې ادبي او هنري پنځونې او ژباړې وړاندې د نوور ګڼو پوښتنو ترڅنګ دا دوې عمده او بنسټیزې پوښتنې خپلې مخې ته ږدي، هغوی ته ځواب پیدا کوي او بیا کار پیلوي:

(ولې او څنګه).

دا دوې پوښتنې څومره چې په ظاهره کې ساده او اسانې ښکاري، دومره ساده او اسانې هم نه دي او ځواب موندل هم ورته اسانه کار نه دی، دې پوښتنو ته ځواب موندل ډېره ستړیا، هڅه، کړاو نه ستړې کېدونکې کار او مبارزه غواړي.

رحماني که شعر لیکي، که کیسه، که لنډه کیسه، که ناول ... یا کوم اثر ژباړي نو لومړی په دغو برخو کې له کورنیو او بهرنیو سرچینو څخه پر ګڼه اخستنې خپل معلومات بشپړوي او بیا یې لیکي.

هغه د ځینو لیکوالو او شاعرانو په څېر د خپل رسالت بېړۍ بې ګودره په سیند نه لاهو کوي او په لوی لاس ځان او په بېړۍ کې ناست ملګري د سیند په څپو او ګردابونو کې نه ډوبوي، بلکې لومړی لاره او ګودر ورته لټوي، د سیند او بېړۍ په اړه خپل معلومات بشپړوي، بیا پرې ځان ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاډه کوي او بیا په بشپړ ډاډ د رسالت کښنتې سبند ته ورکوزوي او په ډاډمنه توګه یې تر ټاکلي ساحله رسوي.

رحماني تل لوړ هدفونه ټاکي او رسېدلو ته یې د هرراز کړاو ګاللو ته ځان چمتو کوي او بیا یون پیلوي، رحماني د بېلابېلو اثارو د پنځونې په خاطر د بېلابېلو لویدیځو او ختیځو کورنیو او نړیوالو کلاسیکو او معاصرو سترو او پېژندل شوو لیکوالو او شاعرانو لوړ اثار مطالعه کوي، په هره برخه کې د ټاکلي اثر د پنځونې په موخه بشپړ مسلکي معلومات ترلاسه کوي او بیا د اثر پر لیکلو پیل کوي.

هغه د نورو ختیځوالو او لویدیځوالو لیکوالو او شاعرانو د اثارو د ژورې مطالعې ترڅنګ د نړۍ پېژندل شوي مفکر لیکوال جبران خلیل ډېرې اثار په ډېره پراخه، کره او دقیقه توګه مطالعه کړي او ډېرې اثار یې پښتو ته ژباړلي دي، ځکه نو لیکنو یې د نورو نړیوالو او کورنیو مفکرینو د رنګونو پر خپلولو تر ډېره بریده د جبران خلیل د ژور تفکر او لوړ تخیل تاثر او رنګ خپل کړی دی.

رحماني د بېلابېلو اثارو د پنځونې ترشا هدف ټاکي او لکه څنګه مو چې وویل، لومړی د (ولې) پوښتنې ته ځواب مومي بیا د هغه په رڼا کې کار پیلوي، ما چې د شعر په ګډون د رحماني نور بېلابېل اثار او پنځونې کتلي او لوستي مې دي، نو د هغه په هر اثر او پنځونه کې ګټور رغند پیغامونه، مسلکي معیاري معلومات، د اصلاح او سمون لپاره ګټور

(c) ketabton.com: The Digital Library

رغنـد نصـيحتونه، انتباهګـانې، لارښـوونې او نـورې بېلابېلـې ښـېګنې شتون لري.

اوس که په ځانګړي ډول د ښاغلي رحماني د همدې اثر (سوځېدلې ځمکه) په اړه د خپلو دغو ادعاوو د ثبوت لپاره کره دلايل وړاندې کړو، نـو اړ يـو چې د ادبي ټوټې له تعريفه نيولې تـر معيـارونو او ځـانګړنو پـورې يـوڅـه رڼا واچوو او پـه رڼـا کـې يـې د ښـاغلي رحمـاني ددغـې ټـولګې د بېلابېلـو ادبي ټوټو د تللو واک او قضاوت تاسې ته پرېږدو:

له دې سره چې د پښتو ژبې د ادبي ټوټو د فورم پـه هکله تر اوسه د پـام وړ ډېر کار نه دی شوی او ډېر کم مواد پکې پيدا کېږي، خو بيا هم هڅـه کـوم د خپلې ادعا د ثبوت لپاره لـه بېلابېلـو سرچينو دومره څـه پيدا کـړم چې تاسـې يـې لـه مخـې د ښـاغلي رحمـاني د دغـو ادبـي ټوټـو د پياوړتيـا يـا کمزورتيا په اړه قضاوت وشئ کولای.

پښتو ادبي ټوټه هم لکه د نورو هنري ادبيـاتو پـه څېـر يـو ځـانګړی ډول يـا فـورم دی، چـې ادب پوهـان يـا ددې برخـې ځـانګوال يـې (منثـور شـعر) اونازك ادب په نومونو هم يـادوي، نـو پـه همـدې اساس ادبپوهـانو ادبـي ټوټې ته داسې تعرېف وړاندې کړی دی: «ادبي ټوټه په ژبه کې هغـه خـوږ نثري کلام ته وايي، چې پـه ډېـرو بـاريکو ، خونـدورو اولنډو الفـاظو کـې جامع مطالب څرګند کړي. يانې د وينا طرز يې خورا ښکلې هنري بڼه او ترکيب ولري.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبي ټوټې چې هنري ټوټې یا هنري نثر یې هم بولي، د لنډې کیسې یا نورو ادبي هنري فورمونو په څېر دومره اوږدې نه دي . لیکوال ډېر کوښښ کوي، چې د انساني ژوند هر ډول پېښې او سکالوګانې په کې راونغاړي . په ادبي ټوټه کې لکه داستان، رومان او ناول اوږدې پړپړې او پېښې نه وي، بلکې هماغه پېښې په ډېرو لنډو، خو شاعرانه الفاظو کې رانغاړل کېږي .

په ادبي ټوټو کې د نورو ټولو هنري فورمونو څخه زیاتې تشبې ګانې او استعارې راځي چې د همدې ستاینو او ځانګړنو په وسیله لیکنې ته یو ځانګړی خوند اورنګ ورکوي، ځکه خو د نړۍ ډېر پوهان یې منثور شعر هم بولي . هغوی په دې باور لري، چې ادبي ټوټه له اره یوه نثري لیکنه ده، خو د تشبیه ګانو، استعارو اوځانګړي شعري څرنګوالي له مخې شعر هم بلل کېږي .

ادبپوهان همداراز زیاتوي، که چېرې د ادب ځانګوالو شعر ته د وزن او قافیې قید نه وای ایښی، نو موږ به هرومرو پر ادبي ټوټې باندې د مطلق منثور شعرحکم کړی وای .

په ادبي ټوټو کې نه یوازې داچې اوږدوالی او پېچلتیا نه وي؛ بلکې تل لکه لنډې کیسې واقعیت او ریښتیا پکې ترخیال اوچت وي او سکالو یې په واقعیتونو څرخي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوشمېر پوهان په دې اند دي، چې په ادبي ټوټو کې عشقي، حماسي، ملي، بزمي، طنزي، او فلسفي مطالب داسې خوندور او په زړه پورې کارېل کېږي، چې ډېر ژر د لوستونکي په ذهن کې ځای نیسي او په ډېر خوند او مینې سره یې لولي.

پرهمدې بنسټ، زه فکر کوم ادبي ټوټې به هغه څوک تر نورو ښه او خوندورې لیکي چې د لیکوال ترڅنگ شاعر هم وي او یا لږ تر لږه شعري طبعه ولري چې له نېکه مرغه خدای (ج) پر ښاغلي رحماني دا فطري امتیاز او پېرزوینه هم لورلولې ده، رحماني د ښه نثر لیکلو ترڅنگ ښه، ښکلې او معیاري شاعري هم لري.

استاد اسدالله غضنفر په خپله یوه مقاله کې لیکي:

«ویل شوي دي چې د شلمې پېړۍ په سر کې زموږ په فرهنگي حوزه کې د اروپا د رومانتیك شعر د منثورې ژباړې یوه نتیجه دا راووته چې د ادبي ټوټې په نوم نوی ژانر دنیا ته راغی.

ادبي ټوټه د شکل په لحاظ د نثر په جامه کې وي خو مقاله یې ځکه نه بولو چې تخییلي ژانر دی او داستان یې ځکه نه بولو چې د کیسې عناصر نه لري.

د یو ژانر د غوړېدو یوه لویه نخښه دا ده چې د لویو لیکوالو پام وروا وړي. پنځوس، شپېته کاله پخوا د استاد خادم او استاد الفت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

څېړ لویو لیکوالو ادبي ټوټې لیکلې او د ادبي ټوټو ټولګې یې برابرولې، خو په راوروسته لسیزو کې ځینو کره کتونکو ادبي ټوټه د برسېرنو او احساساتي مضامینو د بیان وسیله وبلله، د هغې ادبي اهیمت ته یې د شك په سترګه وکتل . نن سبا ډېر لږ کسان ادبي ټوټې لیکي. اوس ډېرو کسانو ته ادبي ټوټه یو مړ ژانر ښکاري.

په دیارلس سوه اتیا کال کې د مصطفی سالك د هنري نشرونو یو کتاب چاپ شو چې د اوښکو موسکا نومېږي. په دې کتاب باندې د استادانه نثر لیکوال، نور الحبیب نثار سریزه کښلې او لیکلي یې دي چې د اوښکو موسکا د ښاغلي سالك ادبي ټوټې دي. دغه اثر د نثر د پوخوالي، د جملو د موسیقي، د خیال د ښکلا ، نویو ترکیبونو او د فکر د ژوروالي له نظره په اوسني پښتو ادب ښه اضافه ده . هغوی چې ادبي ټوټه مړ شوی ژانر ګڼي، که دغه کتاب ولولي ممکن خپله خبره بېرته واخلي...»

زه دلته د ښاغلي رحماني د دغو ادبي ټوټو په اړه د استاد لیکوال او بې ریا نقاد ښاغلي نورالحبیب (نثار) د لیکنې د یوې برخې رانقلول اړین ګڼم چې د ښاغلي مصطفی سالک د ادبي ټوټو ټولګې (د اوښکو موسکا) په سریزه کې یې لیکلي دي او د ښاغلي رحماني د دغې ټولګې د ادبي ټوټو په اړه هم همدا ادعا کوم: « دغه اثر د نثر د پوخوالي، د جملو د موسیقي، د خیال د ښکلا ، نویو ترکیبونو او د فکر د ژوروالي له نظره په اوسني پښتو ادب ښه اضافه ده...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ښاغلي استاد غضنفر د خبرې په تایید او لا پیاوړتیا په خاطر وایم چې له سالکه وروسته اوس که څوک د جولیز او مانیز پلوه د ښاغلي ګل رحمان رحماني د دغې ټولګې ښکلي او د هنر او معیار په ګانه پسوللې، له رغندو او ګټورو پیغامونو ډکې ادبي ټوټې په بشپړ غور سره ولولي، نو «هغوی چې ادبي ټوټه مړ شوی ژانر ګڼي... ممکن خپله خبره بېرته واخلي...»

هغه هم د قضاوت معنوي معیاري تله، دا هم تاسې او دا هم د ښاغلي ګل رحمن رحماني د ادبي ټوټو ټولګه، ویې لولئ او قضاوت وکړئ!

په ډېر ادب

عبدالغني (هاشمي)

د ۱۳۹۳ لمریز کال د غويي ۲۵مه

کابل د فتح الله خان کلا

د میدیوتیک افغانستان مرکزي دفتر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رحماني د خپلو ادبي طرحو په سوځېدلې ځمکه

له یو ډېر نامي افغان لیکوال نه مې اورېدلي ول چې د ادبي طرحو لیکل د لیکوالۍ جدي درشل نه دی، خو ډېری هغه ځوانان چې لومړی هفتګي او هشتګي وي او بیا په ادبیاتو کې جنرالان او ډګروالان شي، همدغه له ادبي طرحو یې لیکل پیل کړي دي.

ګل رحمان رحماني هم ادبي طرحې لیکي، ډېرې یې لیکي خو ښې یې لیکي.

د چا خبره که کمیت یې په پام کې دی نو کیفیت یې هم له پامه نه دی غورځولی.رحماني نن سبا د خپلو ادبي طرحو په سوځېدلې ځمکه ولاړ دی، ګران لاهو یې هم دې سرې ځمکې ته راکش کړی دی او استاد هاشمي هم.

ماته یې ست وکړ، ما ویل دا یو خو غني دی څه به یې کم شي؟ او دا بل هم په کې لاهو، ما په کې څله راکاږې؟ خو جار یې شم، زه چې ورته ښه ښکارم زما هم د سترګو تور دی.

د رحماني صیب طرحې مې ولوستې، زه یې د ډېرو ادبیوو طرفدار هم نه یم ، کاشکې چې هغه چوکاټونه یې مات کړي وی، کوم چې مقفا شعر په کې ډېر راګیر دی او ازاد هم ډېر نه دي ازاد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحماني زما شخصي ملګری دی، ژبه یې په عادي محاوره کې لږه اخباري ده ،خو په دې طرحو کې یې اصلاً رسنیزه پږواکي ژبه نه محسوسېږي. صافې، ساده او هنري جملې،چې هم خوند په کې شته او قند .

د رحماني ادبي طرحې یو شمېر نوي شاعرانه ترکیبونه هم لري، ما یې ترې یو څو کاپي کړل او که خدای کول ډېر ژر به یې په خپلو شعرونو کې چوخ کړم.

رحماني صیب بې کتابه نه دی، په خپل کم عمر کې یې ډېر کتابونه لیکلي دي او ښېګڼه یې په دې کې ده چې د ادبیاتو په هر صنف کې ناست دی، ناکامي نه لري، له سلو څخه سل او افرین.

دا شان دې غوارم لالیه!

جار شم

ستا تورمان

۹/۱۲/۲۰۱۴

متحده عربي امارت، دبۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوړ خيال

ویاړم چې نن د یوه تکړه، نوښتګر، د پوره حوصلې خاوند او غښتلي لیکوال په اړه چې په ډېره لږه موده کې یې پر غریبه پښتو په خپل ځوان فکر او هڅو ډېر څه لورولي، یو څو کرښې لیکم.

دغه ځوان زموږ د کړېدلې ټولنې یو نوښتګر لیکوال او شاعر ګل رحمن رحماني دی. ښاغلی رحماني د هغو پیاوړو لیکوالانو او شاعرانو څخه دی چې د ښکلا ملنګي کوي او دا ملنګي یې په لیکنو کې له ورایه ځلېږي، د لوړ شاعرانه عظمت او مهربانه زړه خاوند دی.

تل یې هڅه کړې چې د خپل ټول توان سره نورو ته خوښي ور په برخه کړي، دا خوښي هم د هغه په لیکنو او شعرونو کې له ورایه څرګندېږي، په ذهن او فکر کې د وطن او خلکو سره مینه او شریک درد لري.

تر کوم ځایه چې نوموړی زه پېژنم، د ژورنالیزم د عملي کارونو سربېره په شاعرۍ او لیکوالۍ کې پراخه او ازاده مطالعه لري، له خپلې موخې سره له زړه نه مینه او صداقت پالي او پرمختګ غواړي چې شاید ډېر علمي کدرونه هم په دې کار کې په اسانۍ سره بریالي نه شي او کلونه کلونه د بریا په تمه پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده هر شعر او زريني ليکنې له پند او ښکلا ډکې دي، زه دده د فکر ژور والي او پر موضوع برلاسي پوره حس کوم او پرې وياړم چې زموږ په پښتو ادب کې داسې ګلان هم را ټوکېدلي دي.

ښاغلی رحماني له ډېرې کمې مودې راهيسې پېژنم، خو د ليکنو سره يې له پخوا نه اشنايم او مطالعه کړې مې دي، له نږدې مې نه ورسره پېژندل او هره ليکنه مې يې لوستله، هڅه مې دا وه چې د پښتو ژبې او ادب له تکړه ليکوالو سره پېژندګلوي پيدا کړم او د هغوی له پوهې او تجربو نه برخمنه شم.

ښاغلی رحماني بل څوک نه دی، زما هغه ټولګيوال و چې ما يې په اړه له وړاندې ډېر معلومات درلودل، خو ستونزه دا وه چې زه د کابل پوهنتون ماسټرۍ دورې ته په دويم کال کې ډېره ناوخته ورغلم، خو کله چې پوه شوم چې دومره تکړه ليکوال هم زما سره په ټولګي کې دی، نو دا راته ډېره د خوښۍ او حيرانتيا خبره وه.

څکه دا زما لپاره د وياړ ځای و چې له نږدې ورسره وپېژنم او په دې هم برياله شوم چې د ګران هېواد له داسې تکړه او نوښتګر ليکوال سره مې پېژندګلوي وشوه چې د پوهې او تجربو په برکت يې زه هم خپلې ليکنې مخته يوسم.

له ښاغلي رحماني ډېره مننه کوم چې ماته يې هم دا وړتيا راکړه او ددې وړ يې وبللم چې دده په دې اثر "سوځېدلې ځمکه" يو څه وليکم. زه خپل قلم ته دا جازه نه شم ورکولی او نه هم په خپل ذهن او فکر کې داسې توري

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرم چې دا اثر پرې وستايم، ځکه چې ليکنه ډېره اوچته ده، نه پوهېږم چې له کوم ځای نه او څنګه يې پيل کړم؟

ښاغلی رحماني، د شعر، لنډې کيسې او ادبي ټوټې په ليکنه کې د ېر لوړ انداز لري، اکثره ادب پوهان وايي چې ښکلی نثر هغه ماڼۍ ته ورته دی چې د معمار مهارت ته يې هر څوک ګوته په غاښ کېږي، په نثر کې عمده خبره سلاست او د عامه پوهې مسئله ده ، ځکه چې هر څوک بايد په اسانۍ سره پرې پوه شي او تنده يې ماته کړي.

ښاغلي رحماني دا معيار ډېر ښه په پام کې نيولی او په ليکنو کې يې روان والی له ورايه ځلېږي، په بيا بيا لوستلو ارزي، چاته د ستړيا احساس نه ورکوي او د لوستونکي ذهن يوه ښکلي تصوير ته بيايي.

ښاغلي رحماني د هر چا له ذوق سره سمې ليکنې کړې، زموږ کړېدلې ټولنې ته يې ډېر څه وړاندې کړې دي، له کمه موده کې ما له ډېرو نورو اوربدلي چې زموږ د پښتو ژبې د خدای ښښلي استاد رشاد صاحب به تل خپلو زده کوونکو او د پښتو ادب لارويانو ته دا خبره کوله چې کوم قومونه چې خپلې پنځونې نه لري، د خپلې ژبې د بډاينې لپاره د نورو ژبو څخه بايد ګټور اثار وژباړي.

نن له نېکه مرغه چې زموږ ځوانو ليکوالو او شاعرانو دا تشه درک او ډکه کړې او دا تښه يوائې د ژباړې له لارې نه بلکې د خپل استعداد او فکر له پلوه بشپړوي، دوی داسې اثار رامنځه کړي او ليکلي چې په ليدو او لوستلو يې هر چاته ډېره خوښي ور په برخه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته ددې غښتلي قلموال ليکنې دومره ځواک راکړی چې همداسې لیکنه پسې لاړه شم او لاړه شم، ځکه ده تر خپل ټاکلي بريده هم زيات کار کړی او خپلې ټولنې ته يې زيات څه وړاندې کړي دي، زه خپله ليکنه را نغاړم، ځکه وېره لرم چې زما ليکنه نقد دی څنګه ؟

د پښتو ادب په ګلبڼ کې دغه ګل ته د لا زياتې حوصلې او پرمختګونو هيله کوم، خدای دې وکړي چې د ليکلو اثارو معنوي او هېوادنۍ انګازه او ارمان يې نړۍ ته هم ورسېږي.

په همداسې يوه هيله ورته ددې اثر د خپراوي مبارکي وايم او دا نيکه هڅه يې ستايم ، په ژبه او قلم يې برکت شه.

په ټوله پښتنه مينه

پلوشه احمدزۍ

کابل، خيرخانه مېنه

۱۹-۰۱-۱۳۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما د ژوند سوځېدلې ځمکه

پر دغه ځمکه را ټوکېدلې ادبي ټوټې چې ځینې خلک یې لنډکي نثرونه بولي، زما د ژوند د خوښیو او محرومیت څو تصویرونه دي چې د وطن، مینې او ژوند په نامه مې انځور کړي او د یوه ژور درد او تاثر پایله ده.

د ګرانو مشرانو او ملګرو ، نورمحمد لاهو، عبدالغني هاشمي ، اجمل تورمان او پلوشې احمدزۍ ښه غواړم چې په دغه ځمکه یې را سره څو شیبې مزل وکړ او زه یې بدرګه کړم. د خپرندویې ټولنې هم کور ودان چې په دې چاره کې یې بې لاسنیوي پرېنښودم.

رحماني

کابل، خوشحال خان

۲۰۱۴ د جون ۲۰ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترځ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ کړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې برياليى کړى، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شکرانې سجده

دا څومه ورځ ده چې پنځه ګونو حواسو مې ستا د ښکلا او عظمت پر وړاندې د چوپتیا او خاموشۍ جامې اغوستې، له هغې ورځې چې ته له خپل اسماني او رنګین محل نه د دې خاورینې نړۍ په یوه کونج کې زما جونګړې ته په سپینو سپېڅلو جامو کې له خپل ټول پرتم او جلال سره را ښکته شوې، نو زه تر ننه د شکرانې په یوه اوږده سجده پروت یم. ستا د وجود رڼا او د ښکلا احساس مې سترګې او زړه سوځوي.

زما د ژوند ښکلا! ما لا تر اوسه تا ته په خپله ټوله مینه نه دي کتلي، لا مې هم زړګی ربړدي چې هسې نه دا هم زما د زلمیتوب د وختونو کوم خوب وي او ته رانه د یوې اسماني پرښتې غوندې بېرته اسمان ته ستنه نه شې.

زه بې پروا نه یم. د سترګو تر کونجو هغه رڼا ګورم چې ستا په راتلو زما په جونګړه کې خوره ده. د شپې او ورځې توپیر یې ورک کړی. غوږونه مې هغه سندره حس کوي چې ستا له وجود نه اوچته شوې او د وړاندې ځانګو او بوټو له پاڼو او د باد له هرې څپې سره زما په ترهېدلي زړه کې مستې شیندي. زه اوس هم هغه جنتي وږمه حس کوم چې ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وجود له ځان سره زما جونګړې ته د یوې خدایي ډالۍ په څېر لـه ځـان سـره راوړې ده.

زما محبوبې! ته مه خپه کېږه، بې پروا مې مه ګڼه، زه پوهېږم چـې لا هـم ستا پر وړاندې زما د سترګو غړولو او هر کلي وخت نه دی را رسېدلی، زه اوس اوس د شکرانې له سجدې نه خلاصېږم او ستا د لاسونو ښکلولو تـه ځان جوړوم.

۲۰۱۳ اکتوبر ۷مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شین خوب

هېڅ وخت مې نه غوښتل، چې زما له ټولو کمزوریو خبره شي. زما هیله دا وه چې ټول عمر دې پر وړاندې د یوه داسې دنګ ځلې او یا شنه نښتر په څېر ودرېږم چې ته مې سیوري ته دمه وکړې او زما د نارینه غرور په اړه شنه خوبونه وګورې.

څوک پوهېدل چې یوه ورځ به ددې دښتې خړې او سوځوونکې سیلۍ زما ملا ماتوي، له مجبورۍ به ستا غېږې ته پناه دروړم او ستا شنه خوبونه به پاڼې پاڼې شي. زه پرېوتم، ما د خپلو پرهرونو له درده چیغې وهلې او تا مې د ټولو کمزوریو او پرانېستې غرور غوړېدلی کتاب ټکي په ټکي ولوست.

اوس مې یوازېنۍ هیله داده، چې همداسې مات او ویده مې پرېږدې، نه غواړم له هغو دوو وړو شاهینانو سره مخ شم، چې زما د ویښېدو او پاڅېدو انتظار باسي او زرګونه نا ځوابه پوښتنې یې راته ساتلې دي.

زه همداسې ښه یم، زما له څانګو او رېښو نه لا هم د هغې مهربانه خاورې بوی او طبیعت نه دی وتلی چې خپلو بچیانو ته د مینې او مهربانۍ تر څنګ د یاغیتوب او سرکشۍ شیدې هم ورکوي.

۲۰۱۴ د سپټمبر ۵مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوځېدلې ځمکه

زموږ مینه په یوه داسې سوځېدلې ځمکه را وټوکېده چې پېړۍ پېړۍ یې د ژوند د ارامه شنه پسرلي وږمه نه وه حس کړې او د ګلونو نازکو ربښنو یې په زړه کې غزونې نه وې کړې، خو دا ځمکه ددې ټول درد او تاو سربېره هم موږ ته له جنته ښکلې وه، ځکه پوهېدو چې یو ځل د جنتي چینو په خوړو اوبو وینځل شوې او زرګونو پرښته ډوله انسانانو یې چمن او ګلونو ته د خپلو سپېڅلو وینو رنګ او رڼا ورکړې ده.

موږ دې سوځېدلې ځمکې ته د یوه زرغون پسرلي د راتلو انتظار کاوه، د زرګونو سندرو او نغمو تمرین مو وکړ، د مینې او ژوند داستانونه مو خپاره کړل، د جل وهلو مرغانو ژبو او د مړاوو ځنګلونو ربښنو ته مو په لپو کې اوبه ور وړې، چې د پسرلي د راتګ پرمهال ټول د یوه شانداره هر کلي لپاره په یوه زرینه لیکه کې په پورته پرتم سره ودرېږو.

موږ پر همدې خواریو بوخت وو، خو ډېر وروسته مو پام شو، چې زموږ ستړې مینې هم د سوځېدلې ځمکې بوی اخیستی او د تودوخې په یوه وړوکې دایره کې راګیر یوو.

له دې سره سره زه باور لرم چې پسرلی را روان دی. نن وي که سبا، نو ددې ټاټوبي په لمنو کې به د خپلو کېږدیو زرینې مراندې ټک وهي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه مهال به مرغان زموږ د انګړ د باغچې پر ځای زموږ په ګلورینه هدیره کې د مینې، ازادۍ او ایثار سندرې وایي.

راتلونکي نسلونه باید پوه شي چې ډېر ځله دداسې شېبو راتګ ته باید زرګونه مینې قرباني ورکړي، د قربانۍ جذبه ژوندۍ وساتي او د خپل تاریخ په وروستیو پاڼو کې د تلپاتې مینې بابونه پرانېزي.

۲۰۱۴ د مې ۱۴ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پرښته که شیطان!

پرښته او شیطان دواړه د سهار تر لمر خاته وړاندې په یوه لار روان وو، یو بل یې نه پېژندل، ځکه دواړو جامې بدلې کړې وې، د شیطان د فرېب او شیطانت جامې له واریه معلومېدې، خو د پرښتې له جامو د مینې او مهربانۍ اسماني نور ورېده.

له دواړو څخه هر یوه د خپلې ورکړل شوې دندې لپاره بېړه کوله چې تر ټاکلي وخت وړاندې ځانونه خپل منزل ته ورسوي. د لمر راختو سره سم دواړه د یوه کور په دروازه کې تر ورکړل شوي وخت وړاندې ودرېدل.

پرښتې غوښتل چې د دروازې په ټک ټک سره د انسانانو د ژوند اداب مرعات کړي، خو شیطان هڅه کوله چې د دروازې له سره د غله په څېر ور واړي.

پرښتې پرې غږ وکړ:

دا د دوی د ژوند اصول نه دي چې د خدای (ج) د یوه بنده کور ته په خپل سر ور ننوځې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیطان سترګې وغړېدې، د پرښتې د غږ خوږلت او اشنایي یې حس کړه، لاسونه یې سست شول او له را شا ته کېدو سره یې بیا پرښتې ته وکتل:

ته څوک یې چې زه دې ولیدم او له دې کار مې منع کوې؟

پرښتې ځواب ورکړ:

زه پرښته یم. خپل بادار مې له اسمانونو را استولې یم چې د هغه دا دوست د خالق حضور ته ور وبولم ...

شیطان ورخطا شو

یانې ...

هو! یاني امر شوی چې په جنت کې نور د هغه ماڼۍ او عالي مکان ور وسپارل شي.

شیطان مغرورانه خندا وکړه.

پرښتې! ښایي کور دې غلط کړی وی، په دې ځمکه د ډېرو انسانانو خپل کورونه په یوه ډول او له یوبل نه په تقلید جوړ کړي دي، کوم انسان چې ته نن جنت ته غواړې، هغه نن زه دوزخ ته راسره بیایم، بلکې زه نه ، خپله یې دا پرېکړه کړې، ته خو پوهېږې چې زه هم یو وخت پرښته وم، خو بیا مې وغوښتل چې مقام مې له دې هم لوړ شي او هېچا ته سجده ونه کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرښتې بیا دروازې ته وکتل

نه، نه! مور، نه تېر وځو. ته پرښته نه، د دې نړۍ تر ټولو بد موجود يې، ته په همدې سرکښۍ د تل لپاره رټل شوی يې، خو هغه انسان چې په دې کور کې دی، تر ماهم غوره دی.

دوی په دې خبرو کې وو چې وړاندې يو سترې ستومانه انسان را ښکاره شو، خپله بوډۍ مور يې را په شا کړې وه او په لاره کې په سختۍ د کور په خوا را روان و.

شيطان بیا وارخطا شو او پرښتې ته یې وکتل:

دا څه دي؟

پرښتې ځواب ورکړ:

دا هغه غريب انسان دی چې خپله ناروغه مور له تېر یوه کال راهيسې د درملنې په هیله د ښار په طبیبانو په شا ګرځوي او شپه ورځ يې خدمت کوي، اوس يې هم د شپې کوم طبيب ته وړې وه، خو زما د رب امر دی چې نور يې خپل حضور ته وغواړي او ځو ورځې وروسته يې مور هم ورسره يو ځای کړي...

شيطان یې خبرې ور پرې کړې...

نه، نه ده خو ښکاه نيت کړی و چې خپله ناروغه مور چېرته لرې وغورځوي او ځان ترې خلاص کړي، ده زما خبره منلې ده، نن يې ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

پربنتي وخندل

تېروتی يې! همداسې و، خو نن شپه يو ځل بيا د خپلې مور په ژورو دعا ګانو کې پټ شو، د مور دعاګانې يې عرش ته ورسېدې، هغه د خپل رب په لور يو بل قدم واخيست او خدای"ج" ورته دومره را وړاندې شو چې اوس يې بېلتون نه شي زغملی.

را روان کس چې څنګه خپله ناروغه او زهيره مور له شا کوزه کړي، نو هغه له ما سره څي، هیله کوم چې نور دې رټل شوې ځېره له مانه لرې کړې، په دې دروازه نن الهي نور وربرېږي، هسې نه چې ځېره دې په کې وسوزي.

شيطان لړزې واخيست، خو مخکې له دې چې روان شي، د نور يوې زوروري څپې وړاندې ګوزار کړ، چيغې يې يوازې پربنتې او را روان انسان واورېدې.

۲۰۱۴ فبروري ۶مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پرښته

زما د ماشومتوب ټول خوبونه د ښاپیرو، پرښتو او دېوانو په رنګینو خوبونو او معمولي وېره ښکلي وو. د هر ځله په خپلو چیغو او په هواکې د الوت پرمهال د خپلو وزرونو د شور او د باد له شغا سره را ویښ شوی یم.

په ځوانۍ کې مې په دېوانو او ښا پیرو باور له لاسه ورکړ، دا هر څه راته افسانوي مخلوقات او خیالي اتلان ښکاره شول، یوازې پرښتې مې له نږدې ولیدې، ځکه ته زما لپاره د مینې او ښکلا د هغه پرښتې په جامه کې راغلې، چې وزرونو دې د دغه خاورینې نړۍ رنګ او بوی اخیستی و او زه دې تر نن ورځې په خپله نامریه رڼا کې را نغاړلی یم.

د جولای ۵مه ۲۰۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مينې تاج

پوهېږم چې د پسرلي لومړيو شېبو هر څه ته ښکلا ورکړې او خداى "ج" د خپل جمال يوه پيکه جلوه په غرونو، دښتو او باغونو شيندلې ده، خو نه پوهېږم چې زما زړه ولې دومره بې پروا او مات دى چې د پخوا غوندې د ماشوم په څېر د دې ننداره ليدو ته تريکې نه وهي او د طبيعت دا پېرزوينه يې هېره کړېده.

اوس هم د ژمي په سړو کې ګنګل پروت دى او ما ته د نورو پسرليو غوندې د شعر او تا ته د مينه ناکو ليکونو د ليکلو رنګين احساس نه را ډالۍ کوي. بس دا يو راز وګڼه، همداسې خاموش او د غربو په نازکو پردو کې نغښتى ښه دى.

هسې هم ته پوهېږې چې زما د ژوند پسرلى چېرته تم دى، کله راځي او د راتلو لارې يې چېرته دي؟ بس خو را ځي به او بيا به وګورې چې يو نامريه طراوت او سرور به مې په غېږ کې اخلي او په هغو سرو خورو شوو ګلپاڼو به مې پلى کوي چې خپل مړاوي احساس راته ستا تر دروازې فرش کړي دي.

زه همدغه لار هره شپه په خوب وينم او چې ماښام لمر د غرونو شاته ډوب شي، نو ما ته يې سپېڅلې وړمه راځي. تا هم ګورم، د کړکۍ د رنګينو پردو شا ته ولاړه يې، د زړه درزا پټوې او د مينې تاج دې په لاس کې نيولى چې د يوه ملنګ مزاجه انسان په د رسېدو يې ددې لاروي پر سر کېږدې او هغه خپله پاچاهي تر لاسه کړي.

۲۰۱۴ د مارچ ۲۸ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سمڅې ګل

د سمڅې ګله! مه مایوسه کېږه، ته حق لرې چې د دغه سمڅې په تیارو کې د وږمو خورولو پر ځای اوښکې تویې کړې. ستا زرغونېدل او غوړېدل دواړه له وېروونکو تیارو سره ملګري وو، د لمر وړانګو او د چمن یاغي طبعیت دې هر کلي ونه کړ، رنګ او وږمه دې هم د ازادې نړۍ تر انسانانو او مرغانو ونه رسېده.

مه ژاړه! کله چې خپلې اوښکې وچې کړې او شاو خوا وګورې، نو د سمڅې په دې تیارو کې به ډېرې نورې له اوښکو ډکې سترګې هم وګورې، چې ستا ښکلا او رنګونه په کې ځرکونه وهي او ستا له خوشبو ساه اخلي.

ته یوازې نه یې، دلته ډېر نور دردېدلي زړونه هم سلګۍ وهي، دوی هم د ځنګلي او تر ډېرو لاندې ګلونو په څېر د لمر رڼایي نه ده لیدلې، خو د لمر په تودوخه او مهربانۍ پوره باور لري او له اسمانه یې په زړونو کې یوه ګیله هم نه شته.

داسې وبوله چې د ښکلا پنځوونکي خالق ته د هغوی د خوښۍ لپاره را استولی یې چې خدایي مینه هېره نه کړي او پوه شي چې د هغوی لپاره دازاد ژوند یوه ښکلې اسماني ډالۍ یې او کله چې دا سمڅه څېرې او د لمر روښنايي ورته را ولېږي؛ نو وبه ګورې چې په زرګونو انسانان به ستا د ښکلا سندرې وايي او د لمر په لور به درسره یو ځای روان وي.

۲۰۱۴ د سپتمبر، ۱ نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مرغانو بیه

ښکاري له لوږې او ګرمې بې سېکه و، خبریال ته یې بد بد کتل، لکه له پوښتنو یې چې ستړی شوی وي، د خپل باز په سر یې یو ځل بیا لاس را تېر کړ او هغه ته یې وکتل
بس یوازې دومره پیسې تر لاسه کوم چې د خپلو اولادونو ګېډه مې پرې یوه ، یوه نیمه میاشت مړېږي او ناروغې مور ته مې پرې څه درمل را ونیسم !
خبریال بیا د وروستۍ پوښتنې په توګه ښکاري ته خپل مایک ورنږدې کړ
ښه عربان بیا په دې مرغانو څه کوي؟
ښکاري په نه زړه ځواب ورکړ
هغوی یې د یو ډول کبانو د نیولو لپاره روزي، هغه کبان په لویو سمندرونو کې دي، وایي چې ددې کبانو غوښه د شهوت او شهواني قوې په پیاوړتیا کې له هغوی سره مرسته کوي...
خبریال خپل ټیپ ریکارډر بند کړ او په دښته کې اوښلنې سترګې روان شو. وریاد شول چې له ښکاري یې د مرکې لپاره مننه هم ونه کړه.

۲۰۱۴ د سپتمبر ۲۵مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پېغور

داسې هم نه وه چې ما هېڅ غوښتنه نه درلوده. زه د ځوانۍ او جنون د کاروان هغه لاروی وم چې د وجود هر رګ رګ مې له جل وهلو غوښتنو مالامال و، خو کله چې له تا سره مخ شوم، ستا د خوښې لپاره مې خپلې ټولې غوښتنې تر پښو لاندې کړې او ستا غوښتنې ته تسليم شوم.

پوهېدم چې ددې جګړې سوبه تا ګټلې، خو ما هم د ويار او برې احساس کاوه او ځان راته ناکام نه ښکارېده، ځکه ما ويل چې ددې ټولو ماتو په بدل کې به تا وګټم، خو هغه ورځ چې زما ترمخ دې ټولو ته زه يو بې هيلې او بې غوښتنې بنيادم معرفي کړم؛ نو په ټول وجود کې مې د پښېمانۍ اور بل شو، خو دا هغه وخت و، چې هډوکي مې ستا د پېغور په سکروټو کې سوي وو او د ځان راټولولو توان مې نه درلود.

۲۴مه د اګست ۲۰۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ته او موسمونه

لومړی ځل و چې ستا ځنګ ته دومره نږدې ناست وم، زړه مې را ټول کړ او درته ومې ویل، چې روح مې یې، خو ته غلې وې او د ژمي په ماسپښین دې وړاندې په لاره را روان لاروي ته کتل چې سړو سیلیو رانغاړلی و او زموږ په لور را نږدې کېده.

له څه چوپتیا وروسته مې بیا درته وویل چې ته د ځمکې په سر د خدای را لېږلې پرښته یې، خو ستا سترګې د وړاندې غرونو په واورینو څوکو ګنډلې وې، د سړو سیلیو او ډېبېدونکي لمر ننداره دې کوله، هېڅ پوه نه شوم چې زما خبره دې اورېدلې که نه؟

ته د غروب په ننداروکې ډوبه وې، په زلفو او تندي دې طلایي رڼا څپې وهلې، ما له خپلو ټولو حواسو سترګې جوړې کړې چې وخت مې ستا له ننداري پرته په بل څه تېر نه شي، خو ته دومره په فکرونو او وهمونو را نغاړلې وې، لکه کوم پیغمبر چې د اسمان له خوا د وحې د راتلو انتظار کوي.

زړه مې په خپل ټول جرائت راټول کړ او درته ومې ویل: ته چې په د کومو طبیعي منظرو په ننداره کې ډوبه یې، زه هغه ټولې ستا په سترګو کې ګورم. راتـه ودې کتـل، سره د دې چې ورو ورو د ماښـام تررږمې خپرېده، بې ځالو او سړو وهلو مرغانو له یخه وزونه ځنډل او په همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تربږمۍ او سارہ مابنام کې د څه لیدل ګران و، خو ما ستا په سترګو کې د لومړي ځل لپاره هغه نامریه رڼا حس کړه، چې له مودو یې غوښتونکی وم.

هملته زما ټولې پوښتنې ځواب شوې، له غربو او خوښۍ خوب یوړم، یو ځل هغه وخت را وېښ شوم چې په غرونو او درو سپوږمۍ را وختـه، په یخ او واورو کې هر شي ستا په څېر سپینې جامې اغوښتې وې.

بیا هغه وخت چې د پسرلي د باران نرم څاڅکي مې په مخ ولګېدل او ټولې درې، غرونو او رغونو شنې او ګلابي په تن کړې وې. هلته ته هم زما ترځنګ د یوې ونې په څېر را شنه وې، تاندو څانګو او غوټیو دې په ټوله دره جنتـي ورږمـې خـورولې او بېنـوا مرغـانو دې تـر څـانګو لانـدې پنـاه اخیستې وه.

۲۰۱۴ فبروري ۱۲ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوښکې او باران

دا دې بیا پسرلی رانږدې شو، د کلي په کوڅو کې بیا هماغه مړاوې، خو ستا د فطرت په څېر په سپرلني ښایست درنې ورمې خپرېږي. له ناوو څخه د باران د اوبو شرهار د یوې خوږې سندرې تنده ماتوي، زما خوبونو هم د غرونو، لمنو، ډاګونو او سمسورو ویالو څخه د پسرلي زرغون رنګ اخیستی.

پوهېږم چې ټول کلی به یو ځل بیا د ښکلا او جمال شین جام شي، خو ته چېرته یې؟ له ما سره به څوک د پسرلي په شنو سهارونو، خوبوړو خاموشه غرمو او زړه را ښکوونکو ماښامو له کلي لرې د ځنګل په څنډو او شنو لښتیو کې لوبې وکړي؟

له ما سره به څوک د سپرلنیو ګلونو په مونډلو او په غولکو کلي ته د نوو راغلو مرغانو ښکاري کوي، ما ته به په ونو کې څوک د ختلو چل را زده کوي او د کلاګانو په دېوالونو کې به څوک راته خم شي چې په اوږه یې ودرېږم او د مرغانو ځالو ته مې لاس ور ورسېږي؟

هلته خو زه نه شم درتللی، منم چې د کلي هدیره هم په پسرلي کې نوې جامې اغوندي، خو اوس ته هم د دې هدېرې په یوه څنډه کې په خواږه خوب ویده یې، یوازې دومره کولی شم چې په یوه باراني ورځ د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلانو یوه تازه ګېډۍ ستا په شناخته کېږدم چې ما او تا ورته ځانګړی نوم ورکړی و او نور کلیوال یې په دې نامه نه پېژني.

هو، یوه بله ګته به مې دا کړې وي، چې د باران به څاڅکو کې به زما اوښکې هم څوک نه ګوري او په دعا کې به مې د لاسونو لړزه هم د باران او سړو له امله ګڼي. هو زما ملګریه! ته هېڅ وخت هم د هېرېدو نه یې، ارام خوب وکړه.

۲۰۱۴ مارچ ۲مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خپل ځوانیمرګ ملګري، همزولي، کلیوال او د ماما زوی محمد قیوم جان ته، چې د پردي وطن مزدوریو یې ځواني وخوړه او نن زموږ په منځ کې نه شته.

# زما چیغې

ستا د تګ پرمهال مې در پسې ډېرې چیغې ووهلې، ستا په کاروان کې ټولو روانو مساپرو ما ته کتل او پوهېدل، چې چیغې مې څومره د زړه له تل نه را وځي.

ما د ډېرو کاروانیانو په سترګو کې اوښکې هم ولیدي چې د پټولو هڅه یې کوله، خو یوازې ته وې چې د نوي منزل پر لور سفر دې زړه له خوښې باغ باغ کړی و، زه څه چې له خوښې دې هر څه هېر کړي وو، دې نا لیدلي سرور تر ټولو وړاندې روان کړی وې او څاروان ته دې هم په بیا بیا د تګ امر کاوه.

ته ولاړې، پرته له دې چې زما چیغې او په سترګو کې ولاړې اوښکې وګورې. زما فریادونه له تا نه وروسته په هغه درو او غرونو کې له ماسره یوائې پاتې شول، خو انګازې یې هره خوا خوره شوې، تر ننه هم د باد په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځير په غرونو، درو او شيلو کې خپرېږي، خلک به ورسره عادت شي، خو ستا د راستنېدو پرمهال به ما در ياد کړي.

هلته چې له يواځې را ستنېدو سره ستا لاسونه خالي او د پښېمانۍ کچکول دې پر غاړه وي، نو خپل غوږونه به نه شي پټولی او که يې پټ هم کړې، نو زما د چيغو انګازې به دې د غوږونو پر ځای زړه ته ځي او پوه به شې چې ستا منزل هلته نه دلته و، خو نور د تل لپاره بې منزله يې.

۲۰۱۴ فبروري ۲مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لایزاله سندره

ټوله ورځ د لمر له وړانګو خوند اخلو، په بڼ او ځنګلونو کې د بوټو او څانګو، شنو پاڼو ته په مینه ګورو.

د رنګارنګ غوړېدلو ګلونو پرانېستې ښکلا ته حیرانېږو او چې شپه شي، د سپوږمۍ او ستورو په رڼا کې د سترګو تر څاره، په ونو پوښلي غرونه، هسکې غونډۍ، یاغي ځنګلونه او سمسورې درې ګورو چې د الاهو په ترنم زانګي او د وحدانیت لایزاله سندره وایي.

حیران یم، د دې ټولو سره سره مو یوه ورځ هم په اوچت غږ او چیغو ونه ویل چې خدای جانه مننه! رښتیا هم موږ څومره درته ګران یو او زموږ په ژوند دې د ښکلا څومره پراخه څادر غوړولی دی.

۲۰۱۴د مارچ ۱۹مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نامریه وړانګه

که څوک را نه وپوښتي چې هغه څوک ده؟

نو زه به له وېرې پرته، په پوره جرئت سره ورته ووایم چې یوه بله شوې ډېوه، یوه روښانه لاره او یوه نامریه وړانګه چې د هرې لارې په پیل او پای کې راته روښانه ده او له یو عالم مینې او خوښیو سره مې ځانته ورغواړي.

خو چې کله ور ورسېږم، نو د وړانګو په ځلا او ښکلا کې یې، د لیدو توان او جرات وبایلم، سترګې پټې کړم او مخامخ ورته په درناوي کښېنم او چې سترګې وغړوم، نو په وجود مې د سوو پتنګانو د ایره شوو وزرونو امبار جوړ وي او هغه راته نه ښکاري.

د ۲۰۱۴ مارچ ۱۹مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تیارۍ او دعاګانې

په هغه شپه زه هم یو له هغو کسانو وم چې لاره مې په تر‌ږمیو کې له هغه خاموش او تیاره ځنګل تېربده چې د هرې ډبرې او ونې شا ته یې مرګ پټ و. یو کس هم نه معلومېده چې د ځنګل له تیارې دې ها خوا ته ژوندی ووځي، خو د دې پته هم نه وه چې په ځنګل کې ورسره څه کېږي.

له نورو محکومو کسانو سره مې توپیر دا و چې هغوی د تورو او خنجرونو تر وهمناک چتر لاندې وړاندې تلل او زه یوازې وم، یوازې تر پښو لاندې مې شګې او خاورې ښوېدې او د هغه ځنګل په لور یې نږدې کولم چې د مرګ تور وزر ورباندې خپور و.

د ورنږدې کېدونکو ټولو کسانو چیغې مې ښې اورېدې، په محکومو کسانو کې پادشاهان، د شاهي ماڼیو، محلونو او رڼا ګانو په غېږ کې را لوی شوي شهزاده ګان، نازولې او حسینې ملکې، د ښار پیاوړي او نوماند پهلوانان، د ماڼیو او جایدادونو، خاوندان، سوداګر او بیا غریبان او د واټونو سوالګر ټول شامل وو چې عمرونه یې له پنځه کلنۍ تر سل کلنۍ پورې رسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګل تـه پـه ور نـږدې کېـدو سره د هغـوی نـارې تـر مـا ډېـرې ښـې را رسېدې، خو تر ټولو عجيبه راته دا وه چې د مرګ سره تر مخامخ کېدو وړاندې به هر چا يوازې همدا نارې وهلې.            های مورې! های ادې! های ادکې مـورې! هلـه... هلـه لاس راکـړه ... بـس همـدا نـاره لـه ماشـومانو نيولې تر سپين ږيرو پورې د ټولو په خوله وه.

اسمان ته مې وکتل، د ځينو له دې نارې سره پرښتې راتلې او هغـه تـه يـې لاس ورکاوه، تياره او وهمناک ځنګل تـه يـې لـه غورځېـدو ژغـورل، خـو د ډېرو کمو کسانو نارې بيا بې غبږه پاتې کېدې او په تياره کې يې په غرونو او درو کې وېرونکې ازانګې خپرولې.

زه هم د تياره ځنګل څنډې ته نه وم رسېدلی چې يـو چـا خپـل نـوراني لاس راکړ، ښکل مې کړ، د خپل وجود رنګ او رڼا مې پـه کـې ولـيـده او زمـا لـه ژغورلو وروسته بېر ته د قبولې شوې دعا په بڼه د اسمان په لور والوته.

۲۰۱۴ فبروري ۱۸ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناوړه غـچ

د نړۍ د بېلابېلو ملتونو د تاریخ پاڼې مې واړولې. د تاریخ ډېرې پـاڼې یې توري او یوه کمه برخه یې سپینې وې. ولې به نه وې، د نړۍ هر لـوی او وړوکی ملت چې د خپلې ارتقا او پاینت د پوړیو اوج ته رسېدلی، نو یوه بل زبرځواک یې پر خاوره وحشیانه یرغل کړی.

د هغې خاورې د وګړو اوښکې او وینې یې بهولې، د شوبلو، الوتکو، بمونو، د مغروره سرتېرو، ښځو، ماشومانو، بوډاګانو د چتونو پرېوتو او ځاروېو کریږې اسمان ته رسېدلې او کله یې چې د هغوی د کلو او ښارونو له کوڅو څخه د ژوند شور او طراوت ورک کړی؛ نو د مرګ او ویر چوپـتیا یې په کې شیندلې او بېرته تللي دي.

د زمانې دا تجربه او وحشیانه لوبه د نړۍ د هر ملت وګړو څکلې، حتی څو ځله زما ملت هم، خو په دومره توپیر چې وروسته د نړۍ هر ملت بېرتـه له خاورو سر را اوچت کړی، بېرتـه د ژونـد پـر واټ روان شـوي، وړانـدې تللي او له زبرځواک او کورنیو غدارانو یې پـه یـوه بلـه بڼـه بـا عظمتـه غـچ اخیستی، خو یوازې زما ملت دی چې تر اوسه یې له خاورو سر را اوچت نه کړ او یوائې له ځانه پر ناوړه غچ اخیستلو بوخت دی.

۲۰۱۴ د اپرېل ۱۲مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تودوخه

په ماشومتوب کې مې هم ډېر دردونه او ستونزې ليدلې، خو زه په خپل هغه عمر يوازې په دې مين يم چې له هېچا نه مې کرکه نه ده کړې، هېڅوک مې نه دي ځورولي او کله به مې چې په لينده مرغان ويشتل، نو لاسي به مې خطا کول، زه وېرېدم چې هسې نه زموږ کلي او باغ پرېښږدي بيا به له چا سره ساعت تېروم.

کاش چې اوس مې هم کينې او حسادتونه د ماشومتوب غوندې وی چې يوه شېبه وروسته را څخه هېرېدلی او د دښمن په نوم مې هېڅ هم نه پېژندلی. کاش اوس هم خلکو زما تېروتنې همغسې زر را ښښلی او په ټولو ګران وی.

های ماشومتوبه! ته څومره خوږ او سپېڅلې وې، ستا نړۍ څومره ښکلې، بې خپګانه او بې کرکې وه، مه راځه، خو خير دی لږ تر لږه په زړه کې مې د هغه وخت ويدې زمانې مه ويښوه، پرېږده چې يو وخت مې په زړه کې د کرکې او نفرت کنګل ويلې او د مينې لمر په کې د موسکا او خوښيو تودوخه خوره کړي.

۲۰۱۴ د مارچ ۵مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوبو دېوال

کله چې ستا سترګې له ګیلو ډکې چینې شي او زما زړه د دوبي د لمر ګرمو وړانګو ته ابښي موم، نو بیا ګرانه ده چې راټول یې کړم او ستا په لور له بهېدو یې وژغورم.

ځومره ګرانه ده چې د یو چا پخلا کولو ته ټولې فاصلې ختمې کړې، خو د غربو یو اوچت دېوال دې د اوبو په څېر تر منځ ولاړ وي او وړاندې ترې هغه سترګې ګورې چې له درد او بې سارو ګیلو سربېره هم تا ته د نږدې کېدو بلنه درکوي.

رښتیا هم غربو ځومره خوږ او ځومره تریخ دی. ای کاش چې د ژوند نه را ستنېدونکې خوښۍ مو له کمزور بهانو نه قربانولی.

۲۰۱۴ د مارچ ۱۹ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاموشه چیغې

ټولو د وسلو په زور خبرې کولې. یوه په سهار دروازه ور ټکوله بل ماښام. خپلې وسلې او ځواک به دومره غرور ورکړی و، لکه د کوم مفتوحه وطن له اوسېدونکو سره چې مخ وي او خپل پاچا ورته د هر ظلم او تېري جواز ورکړی وي.

له باغیانو سره یې توپیر یوائې په جامو کې و، نور د دواړو خواوو په سترګو کې وحشت او جهالت په څپو و، د بې ځایه غچ او کرکې سپرغۍ ترې بادېدلې، هر یوه خپله غوسه په کلیوالو سړوله.

هغوی چې پاچا د باغیانو په لټون او وژنه پسې را استولي وو، له ځان سره یې د هر ډول ظلم او وژنو فرمان هم راوړی و. دوی فکر کاوه چې د دې کلي هر سړی باغي دی، خو د ولس فکر بیا بل ډول و او نور په دې یقیني شوي وو چې دا ځل باغیان په بدلو او منظمو جامو کې له نوو وسلو راغلي دي ځکه چې په دواړو کې مدني صفتونه او په نرمه لهجه د خبرو کولو هنر نه و او د دوی مېلمه پالنې او کلیوالي خویونو ته یې د چاپلوسۍ، ملامتیا او وېرې په سترګه کتل.

د دوی دواړو فطرت بیخي یو ډول و، خپله دواړه خواوې لا هم په دې نه پوهېدې چې د یوې خوا تر شا د نړۍ لوی او د بلې تر شا د نړۍ وړوکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیطان ولاړ دی، خو یوائې ولس دی چې تر شا څوک نه لري، یوائې کلیوال د خپلو اوښکو او وینو په سمندر کې د مظلومیت خاموشه چیغې وهي او دغه کاغذي زمریان خپلو بادارانو ته د بریا او فتحو پیغامونه استوي.

۲۰۱۴ اپریل ۱۲مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فطرت انتقام

بس په همدې هيله پايم چې يوه ورځ به ستا له راتلو سره د خطرناکې او له وهمه ډکې شپې ځادر څېرې او ډېرې هغه پټې څېرې به را څرګنده شي چې په يوه لاس يې زما اوښکې پاکولې او له بل لستوڼي يې له څېرنو ګوتو سره يو ځای تور په وينو سور خنجر هم زما په غاړه را ايښې و.

لمر خو په نوره نړۍ کې هر ګهيځ له ختيزه په پوره شان او شوکت سره را اوچتېږي، خو دلته کلونه وشول چې همدا لمرخرک مې نه دی ليدلی. زما د غرني هېواد په ختيزو څنډو کې مې له خپل پيدايښت نه تر اوسه هغه ننداره نه ده کړې چې زرينې وړانګې په غرنيو ګلونو پرته پرخه څنګه پورته کوي؟

خو په دې مې باور دی چې ته راځې. زما د هېواد سپېڅلې خاوره او ستا طبيعت له ازله سره جوړ دي. ته مروره نه يې، ته د هغې ورځې انتظار کوې چې په دې سپېڅلې خاوره څو ناولې څېرې او وېروونکي سيوري د خپل تقدير محکمې ته ورسېږي او د فطرت له انتقام سره مخ شي، دا هغه ورځ ده چې اوس يې له خوب پرته په وېښه هم ګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته نه غواړې چې خپل پلورونکي په خپلو سترګو وګورې او خپل سپېڅلی نظر ورباندې ناولی کړې. ته د هغه غیرتي وګړو او سپېڅلو ماشومانو سره مینه لرې چې زړونه او ضمیرونه یې لا په واک کې دي، د ژوند په مانا پوهېږي او ته ورته ګرانه یې.

زه باور لرم چې ته یو سهار راځې، زما همزولي به ستا هرکلی په ډزو او وینو نه، بلکې د خوښۍ په اتڼونو او د ښوونځي په ترانو کوي. ستا انتظار یم. اې زما د ټپي ولس د رښتینې سولې او سوکالۍ ورځې.!

۱۳۹۲ د سلواغې ۲۲مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غرور احساس

يوه ورته ويل:

تـه زمـری يـې، سـتا زور او ځـواک د زمـري او شـاهين غـونـدی دی، کـه غوسه شې نو هېڅ سيال نه لرې او که الوت وکړې، نو هره لوړه ژوره دې له سترګو پټه نه پاتې کېږي.

بل ورته ويل:

سـتا ګاونـډيان لا نـه وو پيـدا شـوي چـې سـتا نيکونـه د دې ځمکـې پاچاهان وو، له ډېرو سرکښو پاچاهانو يې باج اخيسته او په ګڼو ملکونو يې لښکر کشي کړې وه.

ځينو به ورته ويل:

تـه خـو پنځـه زره کلـن تـاريخ لـرې. تـه ولـې د نـړۍ اوسـنيو غوښـتنو او سيالۍ ته سر ټيټيوې، دا خو ستا له پاره شرم دی، همدا وياړ او پـرتم دې بـس دی چـې نيکونـو دې ګـڼ مغـرور پاچاهـان او سـرزورې لښـکرې را نسکورې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه خو لا داهم ورته ویل چې ستا وطن د امپراتوریو هدیره ده، دلته هر یرغلګر سر بایللی او ستا تاریخ په توره او خنجر لیکل شوی دی. کوښښ مه کوه چې په قلم یې تازه کړې.

افغان د دې خبرو په اوریدو په سوچ کې شو، د یو ډول غرور احساس یې وکړ، له کوره د وتو اراده یې بدله کړه، بېرته یې د خپلې کوټې د کړکۍ پردې کش کړې چې هسې نه د سهار راختلی لمر او د مرغانو چغار یې له خوبه ونه باسي.

۲۰۱۴ اپریل ۱۳مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مرغانو نړۍ

په ماشومتوب کې مې د کلي د کوڅو او بڼونو یوه مرغۍ هم ارامه نه وه پرېښې، هره ځاله او د راټولیدو ځای یې راته معلوم و، خو مرغیو ددې سره سره هم راڅخه وېره نه کوله، تر هغو به مې له مخې نه الوتې چې لاس به مې پرې نه و ور ښکته کړی، خو اوس راڅخه په اوچتو ونو کې هم کرکه لري، لا ورکتلې مې نه وي چې له مخې مې ځان چپوي او هوا ته الوځي.

مرغۍ څه ملامتې دي، هغه وخت زه د کوچینو مرغیو د سیلونو یو ملګری او لیدونکی وم، هغوی راته کمزورې نه، بلکې ځواکمن مخلوق ښکارېده، په درد، ژبه او خپګان یې پوهېدم، خو اوسنی انسان یوازې د ګېډې غم اخیستی، د مرغانو نړۍ نه شي درک کولی، په لاسونو کې یې ښکاري ټوپک او په دماغ یې د دغه بې ګناه او بې ازاره مخلوق د غوښو او کباب بوی خور دی، نو ځکه خو مرغان او د سولې او ښکلا دغه استازي د دښمن په سترګه ګوري.

۲۰۱۴، د اپریل ۱۸مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سره پاڼه

خپل ټول ماشومتوب مې په یوه طلایي پاڼه لیکلی و. هرې کرښې او توري یې د جلا رنګینو ورځو او نه هېرېدونکو شپو داستان بیانوه. د کلي د روښانه اسمان، له ستورو ډکو ماښامونو، د مني د طلایي پاڼو، د ژمي د واورینو لمنو، د ختهینو کورونو په سر د خورو لوګیو... او د پسرلي د جنتي ښکلا تصویرونه په کې خوندي وو.

مور مې د کور ښکلې ملکه او زه د کلي وړوکی شهزاده وم. هر وخت به چې دا نړۍ راته تیاره شوه، نو بېرته به شاته ستون شوم، هر څه به مې هېر کړل او د هغه مهال په خیالونو به مې زړه ته خوښي ورکوله.

اوس نه پوهېږم چې زما د ماشومتوب د ښکلا او خوښیو هغه خزانه چا لوټلې، هر ځل چې دا طلایي پاڼه را واخلم، نو په وینو سره وي، هېڅ په کې نه ښکاري، د وینو بوی ترې را ځي او ناڅاپه زما اوښکې هم ورسره ګډې شي.

۲۰۱۴ مارچ ۲۸ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ماتېدو غږ

موږ دوه ډوله هغه دوه ورو کي ستوري يوو چې نورو ته له لرې ډېر سره نږدې او څنګ په څنګ ښکارو، خاندو او خبرې کوو، خو په دې يوازې زه او ته پوهېږو چې تر منځ مو څومره زياتې فاصلې دي.

زموږ رڼا هم يو پر بل نه ده لوېدلې، يو د بل غږ هم نه شو اورېدلی او په سترګو کې مو سلګونه نور ستوري هم سره په ټکر کې دي چې د ماتېدو غږ يې له ما او تا پرته بل انسان نه اوري او حتی ګاونډي ستوري مو هم د پېړيو خوب وړي، خو خلک هسې فکر کوي چې ستوري ورته سترګکونه وهي.

۲۰۱۴ مارچ ۲۹ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باور

ټولو به راته ويل چې په هېڅ هم باور مه کوه. شيطان هم يو وخت پرښته وه، خداى پرې باور وکړ او به جنت کې يې په درناوي مېشت کړ، خو خداى ته د هغه فطرت معلوم و او پوهېده چې يوه ورځ به له خاورې جوړ انسان ته له سجدې سر غړوي.

همداسې وشول په خاورين انسان يې ملنډې ووهلې، خداى ج له جنته وشړه او انسان ته يې دا پيغام ورکړ چې تاسې له خپل انساني ځواک او شرف سره چې ما درکړى، د بر کمزوري ياست.

د انسان په فطرت کې بيا هم کبر غرور و، څه يې ونه ويل، دا خبره هم ورته اوچته ښکاره شوه، ځکه چې ځان يې د خداى فرمانبردار ګڼه او کله چې حضرت ادم زموږ په پخواني استوګنځي کې د غنمو ممنوعه دانې ته لاس ور ووړ، نو سرغړونه يې وکړه، انساني کمزوري او نا فرماني يې برسېره شوه.

نور نو جنت د هغوى له پاره نه و او لاندې يوه وچه او سپېره ځمکه ورته انتظار وه چې هغه يې هم په وينو ولړله، ګلان يې په اغزيو بدل کړل او اوس پرې هېڅوک هم باور نه کوي.

۲۰۱۴ جنوري ۵مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خدای کور

تسبې یې په لاس کې وې، په تربړمې کې زما له څنګه تېر شو او یوه ولاړ بوډا ته یې وویل

جومات همدې خوا ته دی؟

بوډا په ږیره لاس راتېر کړ او د کورونو شاته پټ جومات دنګې منارې ته یې ګوته ونیوه وه. هو مخامخ وړاندې لاړ شه او بیا ښي لاس ته وګرځه.

د سر په ښورولو یې مننه وکړه او په بېړه روان شو، خو څو قدمه نه وو تللی چې بېرته را وګرځېده او بوډا ته یې وکتل

یاني ورتللی شم، زموږ او ستاسې جومات دی کنه، مطلب د هغوی خو نه دی؟

بوډا ماناداره خندا وکړه او ور نږدې شو

خدای پاک ته ورځې که خلکو ته؟

لاروی بې ځوابه شو او سترګې یې د جومات په مناره کې مېخ پاتې شوې.

**۲۰۱۴ د جولای ۵مه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښېرې

صبر کوئ! ډېر زر به په دغه ښار د حاکمې تورې شپې پردې د يوه زورور توپان له ښپو سره ښېرې او رېبنې رېبنې شي، ډېر زر به په زرګونو ښېرې د دغه ښار د حقيقت په ښلور لارې کې له تورو او سپينو نقابونو راووځي او وګړي يې به يې په يوه داسې فضا کې ننداره وکړي چې هر ښوک به په کې د ساه اخيستلو او خبرو اجازه لري.

صبرکوئ! په دغه خاوره کې د انسان په جامه کې ډېر داسې مخلوقات شته چې له زرو کسانو سره په زرو ښېرو او زرو نقابونو راښرګندېږي. دوی د پسرلنيو وربځو په څېر ثابته ښېره نه لري، چا ته دوړيو نرم پوستين واغوندي او چاته يې وسپنيزې او تورې فولادي زغرې اغوستې وي، چا ته له لستوڼي راوتلي نرم لاسونه ورکوي او چاته يې پنځه ګوتې د پنځو زهرجنو خنجرونو په ښېر ور وړاندې کړي وي.

چاته يې په شونډو له شرارت او شيطانۍ ډکه موسکا خوره وي، چا ته همدغه موسکا په شاتو او خوږه شېره لړلې وي، خو ځينو ته بيا زهر پاشي او د لبوانو او ښېروونکو غوندې تېره غاښونه يې د موسکا تر شا پټ وي.

هغوی د واکمن او بې پروا پاچا پر وړاندې د پسونو او هوسيو غوندې نرم مزاج لري، خپلې ښېره معصومه او سپېڅلې ښکاروي، د ريا او ښان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښودنې سپینه چینه اغوندي، ځانونه د هغه تر ټولو نږدې خواخوږي او مریدان بولي.

دلته هغوی د زړو خېرو ترځنګ همداسې سلګونه ژبې کاروي چې ټولې د واکمن په صفتونو روږدې دي، خو کله چې شپه شي او د واکمن له لوري ورکړل شویو ماڼیو ته ستانه شي، نو بیا په لېوانو بدل وي، په خپل پاچا پورې ټوکې وهي، په غزتونو او عصمتونو لوبې کوي.

دلته همغه پسونه دلېوانو په څېر د نورو په لوټلو او داړلو لګیا وي. ژبې یې له قهر او غوسې ډکې وي، له پیالو عصمتونو او جامونو سره مستي کوي، د ښار هغه نجونې، چې دوی یې د پاچا په مخکې لونې او خویندې ګڼي، دلته د دوی د عیاشیو او شیطاني غریزو منګلولو ته لوېږي.

له دغه شپو نه ډېر کم کسان خبر دي، له دوی سره ملګرو هم د دوی رنګ اخیستی، د دوی په څېر کړه وړه لري، هغوی د لېوانو کوچني بچیان دي او په راتلونکې کې تړې ښه ماهر او ښکاري لېوان جوړېږي، ځکه د هغوی فطرت بدل شوی، سر له اوسه روزل شوي او دواکمن په ماڼیو کې یې د مظلومانو په وینو او غوښو چمتو شوي خوندونه او مستۍ لیدلې.

نو ځکه وایم چې صبر کوئ! نور د ځنګل دغه شپه تېربدونکي ده، ډېر وړاندې د ځنګل په څنډو کې دنیاوو له غرونو د یوه روښانه لمر او زرین

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار وړانګې په راختو او خوربدو دي، خو دغه سهار يوازې لمر نه دی يو زورو توپان هم ورسره ملګری دی چې يوازې پر واکمنو او دغه زر خبره بيزو ښاغلو به ورځي.

د هغوی نقابونه او خبرې به شکوي، د تېښتې وزرونه به يې ماتوي او کله چې ورځ غرمې ته ورسېږي، نو د دغه ښار د خلکو په پښو کې به بربنډ پراته وي او يوه خبره به يې هم حجاب خوندي نه کړي، خپله خبرې او حجابونه به يې ورپورې خاندې او د خلکو په خبر به ترې کرکه لري.

صبر کوئ! دغه لمر ډېر نږدې دی، ما ته له خپلې وينې او ساه هم نږدې ښکاري، نور په دغه ښار د خبرو واکمنې پای ته رسېږي، شرمېږي، ورکېږي او د دوی له لاسه د بهيدلو وينو نه د ډېوو کاروان روانېږي.

دا کاروان وړاندې ځي، د ښار تول واتونه او څلور لارې به پرې تول شپه روښانه وي، يوازې يوه خبره لرونکي انسانان به له وېرې پرته له خپلو معصومو خبرو سره تر سترګو کېږي او ورځې به مو يوه ښکلي او زرين لمر رانغاړلې وي.

۲۰۱۳ اپرېل ۲۳مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خوښۍ ورځ

زه مو اخېر کومې خوښۍ ته ساتلی یم؟ کومه ده خوښي؟ زما خوښي خو هغه وه چې کلونه وړاندې ستاسې بې پروايۍ او چوپتيا ووژله او هېڅکله مو هم د خپل دې ملګري د زړه هيله حس نه کړه، تاسې خو په خپلو خوبونو او خيالونو کې ايسار وئ او هغه خوب مو هېڅکله هم تعبير نه کړ چې ستاسې په اړه مې ليدلی و.

هغه وخت چې ما په زړه کې دخوښۍ جشن نمانځه، تاسې د بې همتۍ په خوب ويده وئ او په اسمان کې مو د هغې پرښتې په لور هېڅ نظر ونه وکړ؛ چا چې ستاسې لپاره د مينې او خوښۍ زېرې راوړی و.

زه نه له قيامتونو وېرېږم، نه د اسرافيل له شپېلۍ وېره لرم، دغه وېره خو پخوا تاسې ما ته راڅکلې او دا شپېلۍ مې اوس هم په غوږونو کې انګازې کوي، تاسې ووژلم خو اوس درسره د حشر په دې ميدان کې دومره ځواک نه شته چې ما ته لارښوونه وکړئ، د دوزخ يا جنت په لور مې واستوئ، ما ته ښکاري چې له دې نه مخکې لار تاسې ته خپله هم نه ده معلومه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې تـه بـه ځانونـه ښـکلي ښـکاري؛ خـو ډېر بـدرنګي ياسـت، يـوازې تاسې نه زما هغه ښکلا هم چې تاسې يې ستايې؛ له يـوې سترې بـدرنګۍ پرته بل هېڅ هم نه دي، تاسې زه هم بدرنګ کړی يم.

اوس د دې يون لـه ملګرو څـه چې لـه هينـدارې سره هـم نـه شـم مخـامخ کېـدلای، زمـا پـه زړه کـې د هغـې خوښـۍ لپـاره هـېڅ خوښـي نـه شـته چې تاسې يې انتظار ياست.

زه اوس هغه نه يم، تاسې ډېر بدلون راکړی، په هغه ورځ چې تاسې بـه خوښي کوئ؛ نو زما روح به په چيغو چيغو ژاړي، هلته بـه داسې کـس يـو هم پيدا نه شي چې زما دغه چيغې دې واوري.

زه به هم ټول په کرکه بدل وم، دا بـه ستاسـې د هغـه کـر حاصـل وي چې کلونه وړاندې مو زما په زړه کې شيندلی و او اوس زما په اوښکو او وينو رسېدلی دی دا به يوازې ستاسې د حاصل اخيستلو ورځ وي زه بـه يـوازې د يوه جسد غوندې درسره روان وم.

۲۰۱۲ اپريل ۲ مه، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښارمانۍ

زموږ د ښار مانۍ د نړۍ د نورو ښارونو د ماڼيو غوندې نه دي چې په ليدو يې د ښاريانو سترګې خوږې او زړونه ارام شي، ژوند ته غبږه ورکړي او د يوه رنګين خوب غوندې يې په ذهن او خيال کې را ونغاړي.
زموږ د ښارمانۍ په خپلو ښيښو زموږ سترګې برېښوي او زهرجنې وړانګې يې د غشو په څېر د سترګو په رپ کې د زړه تل ته ځي او له هر پوړ نه يې د مرګ بدرنګه سوداګر سترګکونه ستومانه لارويانو ته سترګکونه وهي.
د نړۍ د نورو ښارونو ټولې دنګې ښيښې ماڼۍ او قصرونه د هغوی د اوسېدونکو او خلکو په خولو اباد شوي، د هغوی د لاسونو خاپونه په کې ښکاري، جونګړو ته سلام کوي او د هر زيارکښ په نوم يې يو پټ خو زرين ځلی هم پر بام ولاړ دی چې هر څوک يې حس کولای شي.

خو دلته خبره بل ډول وه، د دې ښار ټولې دنګې ماڼۍ د خلکو له وينو، غوښو، تازه او ورستو هډوکو جوړې شوې دي. د هغوی له وينو او غوښو يې رنګ اخيستی، په هر پوړ کې يې شناختو ته ورته کتارې لګېدلې.
پرې شوي لاسونه او پښې ترې راوتلې چې خاوندان يې نه ګوري، خو عادي لارويان يې ډېر په روښانه ډول ويني، مګر کله چې د خپلې وېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیانولو لپاره شونډې وخوځوي، نو له وړاندې پرې یو د چوپتیا مهر لګېدلی وي.

د نړۍ د نورو ښارونو له ماڼیو د تازه او ښکلونو ګلونو هارونه او لړونه را ګرځېدلي وي او له هر پوړ نه یې ځولۍ ځولۍ ګلونه دباد له نرمو څپو او سهارني نسیم سره ټالونه وهي، کوڅه په کوڅه وږمې شیندي، دروازې یې دهر سترې او نا اشنا لاروي پر مخ بې وېرې او قیده خلاصې وي.

خو د دغه ښار له ماڼیو د ګلونو د هارونو په ځای اغزن سیمونه او اوسپنیز تور برېښنایي جالونه ګرځېدلي، په مخکې له راشنو اغزیو یې له تابوتونو د خلاصو شوو دړو کټارې تاو دي، په درازو یې د وېرې او کرکې تور کلپونه را ځوړند دي، ښکلې ښکاري خو زړه راښکون په کې نه شته او که څوک ورته ښه ځیر شي، نو د غم سرود او د مرګ شپېلۍ په کې غګېږي.

دلته سترې انسانان څه چې د هوا مرغان هم څوک کښېناستو ته نه پرېږدي، ځکه چې خاوندان یې دا د ځان د مزاحمت په مانا ګڼي، دعیش عشرت او عصمتونو د لوټ خوند او نشه یې کموي.

دلته هره ورځ د ښار په بېلابېلو برخو کې نوې او دنګې ماڼۍ سرونه اوچتوي، یو له بل سره په ښکلا او دنګوالي کې سیالي کوي، ورځ تر ورځې پراخېږي، خو هلته ډېر لږې کلي ورانېږي او هدیرې پراخېږي.

هلته چې کلي د مرګ په خوب ویده شي، نو د دې ماڼیو خاوندان په وربښمو کې له پټو چړو او تورو سره ورځې د هغوی دپېغلو له غاړو هارونه را خلاصوي، د ناوې ګانو خزانې لوټي او له وینو یې د دې ښار د ماڼیو خاورو او دېوالونه ته رنګونه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې ښارمانۍ د داسې خلکو دي، چې هغوی د دې ښار نه پردي شوي، د خپلې مور په زیوراتو او د پلار په توره او تاریخ یې سوداګري کړې، خو ځانونه د همدې ټاټوبي اصلي مالکان او واکمنان ګڼي

دوی شپه ورځ د خوارانو د جونګړو په لوټلو بوخت دي او د شپې په خوبونو کې هم د عزتونو او ارام ژوند په لوټ پسې ګرځي. دوی په اوسنۍ زمانه کې اوسي خو د غلامۍ او مریتوب د زمانې خیالونه لري، دوی ځانونه خدایان ګڼي او غواړي چې خپلې مانۍ په غلامانو او وینځو ډکې کړي.

د دې ښار د ماڼیو خاوندانو لاهم د هغه زلزلې وژونکې او مرګونې څپې نه دي حس کړې چې د دوی په لاس د ځمکې تل ته د کوزو شویو او خښو شوو وګړو له اهونو او زندۍ شوو فریادونو څخه راپورته شوې دي.

دا مه هېروئ چې یوه شپه به دوی په همدې ماڼو کې د ناز په خوب وي، خو دغه زلزله به راځي او دوی ټول به په همدغه ښیښه یي قبرونو کې د ځمکې تل ته کوزېږي .

۲۰۱۳ فبروري ۱۲مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سکروټو په منځ کې

بېګاه شپه په خوب کې سلګونه پېړۍ وړاندې تللی وم. د زماني په کتابتون کې مې د تاریخ د یوه کتاب پاڼې اړولې، په یوه څپرکي کې یې لیکلي وو: ددې لویې نړۍ د اسیا د لویې وچې په زړه کې یو داسې ښکلې هېواد هم و چې اوسېدونکو به یې ورته په لوی لاس دخسو امبارونه ټول کړل، بیا به یې پرې د احساساتو او کرکې تېل وشیندل او چې کله به یې ټاټوبی د اور د لمبو خوراک شو نو د دوی د احساساتو او ناپوهۍ کنګل به یې هم ویل کړ.

هلته به ټول د خپل ټاټوبي ایرو ته راغونډ شول او د خپل هېواد سره به یې د مینې او خواخوږۍ اوښکې تویولې. کتاب مې زر بند کړ چې را ویښ شوم، نو زه هم د سکروټو په منځ کې ولاړ وم.

۲۰۱۳ نومبر ۲۸ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه او لمر

د لمر لوېدو پرمهال يې خپل نرم لاس زما په اوږه کېښود ، وړاندې غره ته يې ګوته ونيوه او راته ويې کتل

پوهېږې چې لمر ولې د وينو په رنګ سور دی؟

زه چې کله بې ځوابه شوم، نو هغې له اوږدې او وېروونکې چوپتيا وروسته خبرې پيل کړې:

همدا لمر له پېړيو راهيسې ددې وطن د غرونو شاته په پوره عظمت، خو مايوسۍ او پښېمانۍ سره لوېږي.

په وروستۍ شېبه کې هم ددې په انتظار وي چې موږ په مينه ووينې او د وينو په ځای زموږ د پښېمانۍ د اوښکو تصوير له ځان سره يوسي، خو هر ځل ناهيلی کېږي .

له يوه عالم حسرت او خپګان سره د غر تر شا پټېږي، له ځان سره په زرګونو ګيلې وړي، تو له شپه په سلګو وي، ځکه سپېځلې او مهربانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړانګه يې د وينو هغه خاپونه وچې او له منځه وړي چې مور يې هره ورځ د خپل وطن په شګو او خاورو تويوو.

همدا لمر سبا ته بيا له دې هيلې سره په ختيځ کې را اوچتېږي چې مور به د مينې په ژبه پوهېدلي او له وينې به سترې شوي وو، ځمکه به مو د پښېمانۍ په اوښکو وينځلې او د مينې او مهربانۍ ګلونه به پرې ټوکېدلي وي، خو داسې نه وي، ببرته ناهيلی شي او هر ماښام خپلې ژړاندې سرې سترګې خپل خالق ته وړي.

هغې خبرې بس کړې، زما په وجود لړزه راغله، حيران او هيجاني وم، ووبربدم، هغې ته مې وکتل، خو ترخنګ مې نه وه. د ماښام تياره خوربده او د غرونو په څنډو د شفق سرخي راته سترګکونه وهل!

۲۰۱۳ دسمبر ۲۷ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما وطنه !

زما وطنه! زما د مينې او وينې له بوی او ورمې پللې شوې خاورې!

زما د محروميتونو، دردونو، عذابونو او ګناهونو په لمبو کې سو ځېدلی جنته!

پېړۍ کېږي چې زما له لاسه ستا د سمسورو او زرغونو پسرليو نغمه ييز سهارونه او په طبيعي ورمو کې لمبېدلي ماښامونه په نيمايي کې مړاوي کېږي.

ستا ارمانونه او هيلې د ځوانۍ فصل ته له رسېدو وړاندې پاڼې پاڼې او د يوه پرلپسې ځور او وحشت غېږې ته په بې شرمۍ سره سپارل کېږي .

اې زما دهيلو او خيالونو ټاټوبيه!

زه هم ستا يو ځوان بچی يم، ستا په هغه خاوره کې مې خاپوړې کړې، چې د نړۍ له بلې هرې خاورې ارزښتمنه او د پېړيو پېړيو راهيسې يې د يرغلګرو او يا هم د خپلو زيارکښو او سرسپارلو بچيانو د پښو خاپونه له ځان سره ساتلي.

ما له همغه پيل نه تر ننه، کله مې چې د مور په ګېډه کې له يوې وړوکې، خوسېپڅلې نړۍ دغه خاورينې او پراخې نړۍ ته سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغړولې، سپږمو مې د لومړي ځل له پاره ستا خاورينه وږمه حس کړه چې دخپلواکۍ او فطري ياغيتوب تر ځنګ په کې يوه بل ډول او نا اشنا وږمه هم نغښتې وه.

زه هغه وخت نابلده وم، نه پوهېدم چې دځه بوی دی، خوکله چې کلونه وروسته له خاپوړو قدم وهلو تـه ورسېدم، مـور مـې ويـده وه او زه پـه پټـه لومړی ځل بهرته ووتم، په کوڅه کې يو په وينې لړلـی جسـد پـروت و، يـو متر وړاندې ترې په وينو لمدې خاورې پرتـې وې، پـه وړوکـو منګلـو کـې مې را اوچتې کړې ، بوې مې کړې او دخپل زېږون شېبه مې ذهن ته راغله او ايله مې په ياد شول چې همدا وږمه مې هغه وخت پـه لـومړي ځـل حـس کړې وه .

زما وطنه! سره د دې چې ستا سپېڅلې غېږه ستا له اصيلو بچـو ډکـه ده، ستـا پـه غېږه کې پـه زرګونـو داسـې څېـرې ژونـد کـوي چـې څېـرې يـې د پرښتو په څېر سپېڅلې او ښکلې دي.

هغـوی شـپه او ورځ حتـی ستـا پـه وړوکـې درد هـم اوښـکې تويـوي، پـه رګونـو کـې يـې د ايثـار او مينـې څپـې ستـا د غرنيـو سـيندونو پـه څېـر غـورځنګونه وهي، خو د هغـوی دغـه ارادې او جذبې د هغـوی پـه سترګو کې د يوه لنډ خوب په څېر پاتې شي او سهار وختـي لـه ويښـېدو وړانـدې يې د مخ پټو څېرو او واکمنانو تـور خنجر لـه سينې وتـی او پـه تلپاتـې خوب ويده وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا واکې له پېړيو پېړيو راهيسې د داسې غلام صفته او خاينانو په لاس کې ده چې ستا د سبا او سوکالۍ په ځای له خپلو ناولو بادارانو، حرام سرايونو، ودانيو او عياشيو سره ډېره مينه لري، هغوی ستا دلونو د عزت په ځای دهغوی په عفت سوداګري کوي.

د عفتونو دغه سوداګر چې ځانونه ستا اصيل بچيان ګڼي او خپلې خونړۍ او داړونکې ځېرې يې د پسونو په څېرو کې ټپې کړې؛ ټوله ورځ په دې فکر کوي چې د شپې د عفت پلورنې او عياشۍ محفل به يې څنګه وي، خپل بادارنو ته به د هغوی د خوښ ساتلو له پاره ستا کومه برخه د ډالۍ په ډول وړاندې کوي.

دوی خپل اصل او فطرت هېر کړی، دوی په دې نه پوهېږي چې په څومره سپېڅلې او اصيله خاوره کې ژوند کوی، دوی د داسې کسانو غلامۍ ته په بې شرمۍ سره خپل سر ټيټ کړی چې اصل او ريښه يې نه ده معلومه، خاوره او هېوادونه يې له دوی وړوکي دي او بالاخره ځان يې په لوی لاس وړوکی کړی دی.

زما وطنه! زه پوهېږم چې ستا دغه بې شرمه واکمنان د ختمېدو نه دي او نه يې پلورلي ضميرونه بېرته خپلولی شي، هغوی د خپلو ضميرونو په څېر خپل راتلونکی او تاريخ هم پلورلی، زه د دوی د ورکېدو تمه نه لرم او نه له دې اړخه ستا د ژغورلو خوب وينم،ځکه دوی د مېږيانو په څېر دي، شپه ورځ يې نامعلوم نسل په زياتېدو دی، نوي خاينان زېږوي او د دوی په غېږ کې د هېواد او عفت پلورنې درسونه وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وطنه! زه ناهیلی نه یم، ما د هغوی د ورکېدو انځور له بلې زاویې لیدلی او زېری در کوم چې هر څه به ریښتیا کېږي او دغه د شپدو مجنونان به ستا په سپېڅلې خاوره کې د قبرونو له پاره هم یوه لوېشت ځای ونه لري، دېر زره ده چې د هغوی د بادارانو ماڼۍ و نړېږي، بیا به د دوی کوم ملاتړی ونه ګورې او په رڼه میدان به د خپلې بربادۍ په انتظار خړې سترګې ولاړ وي.

۲۰۱۳ جون ۲۰مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژوند ببرۍ

مورږ ټول په یوه ماته او سورۍ ببرۍ کې ناست وو، د سمندري توپان او اوچتو څپو یوه زړه ماتوونکي انځور راته له هرې خوا سترګکونه وهل، خو د ببرۍ سپرو هر یوه د خپل زړه او درد کیسې را اخیستې وې. هغوی په خپلو خبرو کې دومره ګرم راغلي وو چې په سمندر خوربدونکې تیاره او وړاندې د مرګ خلاصه کړې وېرووونکې غېږه یې نه لیده. د ببرۍ سوریو او ماتو دړو ته دهېچا هم پام نه و.

ډېرو لویو او هوښیارانو هم د خپلې مینې او مینه ځپلو زړونو کیسې کولې، د خپلو معشوقو سره په خبرو او ښکلو مخونو او مجازي ښایستونو په ستاینو سر وو. دوی ټولو هېره کړې وه چې اوس د دوی مینه یوازې ببرۍ ده او باید تر ټولو زیاته مینه له خپلې سورۍ ببرۍ سره وکړي، څو له را روان سمندري توپان څخه خپلې مینې وژغوري. کله چې د توپان لومړۍ څپې د ببرۍ په څنډو ولګېدې، نو له سرونو یې د مینې خمار او د هوسونو نشه والوته. ډېرو د خپل محبوب لاسونه پرېښودل او د ببرۍ ماتو تختو ته یې د خپل ژوند د پایښت په هیله منګولې واچولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی ایله د مرګ په غېږه کې حس کړه چې لا خو مینې ته نه رسېدلې، لا یې روحونو له مرګ سره د مینې ازلي پیوند نه دی اخیستی او د هغوی د مینې ساحل لا ډېر وړاندې د سمندري توپانونو او مرګوني څپو شاته د ژوند د بېړۍ ورتلو انتظار کوي.

۲۰۱۴ د مې ۲۱مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوې پاڼې

راشه! چې نور د دغه خاموش مزار په څنډو بلې شوې شمعې مخ په مړه کېدو دي او په دې دښت کې د زړه ماتو د راز او نياز دغه يوازينۍ مرجع هم زما د نور ژوند غوندې د تيارو په ناپايه سمندر کې مخ په ډوبېدو ده.

ستا هېر شول چې په يوه باراني ماښام ستړې ستومانه راغلې او د دې اغزن دښت په يوه ګوښه کې د دغه خاورين مزار په سر ولاړې ونې ته تم شوې او تر پاڼو لاندې يې دې د يوې شېبې لپاره پناه اخيستې وه، خو ماښام چې روانېدلې، نو څو شمعې دې هم په باران کې د همدې مزار له پاسه روښانه پرېښودې .

تا غوښتل په همدې ډول دهمدغه ترې ونې د کوربه توب مننه وکړې، خو دا دهېرکړې و، چې دغه تندې وهلې ونه له مودو وروسته دباران په څاڅکو کې څومره خوشحاله ده، د طبيعت نه د مننې سندرې زمزمه کوي، خو تا د طبيعت نه، بلکې د خپل طبيعت د خالق يوه لنډه مهالې ډالۍ ګڼې.

راشه! خير دی، يو ځلې بيا راشه او خپلې بلې کړې شمعې دې په وروستيو څاڅکو او اوښکو کې په پخوانو سترګو بيا وګوره چې څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په یاد تر ننه د هر توپان او باران په وړاندې دغه خاورین مزار ته ولګېدلې.

د دغه شمعو له پاسه کوم ښیښه یي چتر نه و، خو دونو پاڼو یې په سر چتر جوړ کړی و او له بادونو سره یې ورته ستا د راتلو سندرې زمزمه کولې، دلته اوس د مزار له پاسه یوازې د غرنیو او وحشي پتنګانو د وزرونو سوې ایرې او له ونې رالوېدلې پاڼې د یادګار په ډول پاتې دي.

۲۰۱۳ مارچ ۲ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرګوني دره

پوهېږم چې ستا ټول دردونه زما له لاسه دي، پوهېږم چې يو سپېڅلی او مينه ناک زړه زما له لاسه مات شوی، خو زه هم د تقدير لاسونو مات کړی يم، ما لا په هغه لوري سفر نه دی پيل کړی، چې ته مې روان کړې.

زه لا هم د درد په همغه څلور لارې کې حيران ولاړ يم، ځان په ټول عالم کې راته يوازې ښکاري. په ذهن کې مې ته روانه يې، ګورم دې چې هر ماښام تروږده کېدو وړاندې او تر سهار وروسته دې زما څېره مخې ته ولاړه وي، خو کرکه راته نه لرې، زړه دې لا هم همغسې مينه ناک او سپېڅلی دی، لاهم همغسې د کور له کړکۍ وړاندې شنه ځنګل ته ګورې، زما تېر يادونه او له ځنګل سره تړلې مينه په کې حس کوې.

خو زه لا همغسې په تروږمۍ کې لار ورکی ولاړ يم، ما لا لوری او منزل نه دی ټاکلی. نه غواړم د نورو له عينکو د ژوند مرګونې او خطرناکې درې ته وګورم، هغه دره چې په غرنيو ګلونو او وږمو بډکه وه او پسرلني باران به جنتي رنګونه په کې وشيندل، نن د ناهيلۍ او درد تروږميو نيولې، زړ ده چې په کې ورک شم ، خو تاغوندې نه وايم چې هېر مې کړه.

په ياد مې ساته، زه په يو چا پسې نه، په يو څه پسې ورکېږم.

۲۰۱۳ اپريل ۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جزا

هغه د لوړې شملې او شخو برېتونو خاوند د خپلې تمانچې ټول جاغور د خپلې پېغلې لور په سينه کې خالي کړ، په شونډو يې فاتحانه موسکاه وغوړېده او خپلې مېرمنې ته يې وکتل

پرېږده چې له خپل مين سره يو ځای شي، خو زر جدي شو او د خپلې مېرمنې تر خوله يې لاس تېر کړ

په مينتوب مې کړې يې، که نه ستا جزا هم له دې مردارې سخته وه!.

۲۰۱۳نومبر ۲۹ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شاعر مقام

کلونه وړاندې د سیند پر غاړه یو سمسور او زرغون کلی اوبو لاندې کړ، ددغه کلي دوه اوسېدونکي چې ځنګله ته د ښکار له پاره تللي وو، داسې وخت خپل کلي ته را ستانه شول چې د کلي یوه نښه هم نه وه پاتې.

دغه دوو کسانو یو بل ته وکتل، شخړه یې وکړه، سره خپه شول، یوه بېرته د ځنګل مخه ونیوه او دویم مخامخ غره ته روان شو.

کلونه تېر شول، یوه ورځ په دغه ځمکه د نوي جوړ شوي کلي خلکو په کوڅه کې دوه بوډاګان پسې اخیستي وو، یو یې له ځنګله راغلی و او بل له غره، د ځنګل نه راغلی سړی غلی و، په خبره یې هېڅوک نه پوهېدل، خلکو به ورته ملنګ او پیر ویل، خو له غره نه راکوز شوي بوډا به ټولو خلکو ته د هغوی په خوږه ژبه سندرې او شعرونه ویل، د دوی تر منځ یې د شاعر مقام ګټلی و.

۲۰۱۳ سپتمبر ۱۴مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوه شپه

يو ماښام ناڅاپي له کوره ووتم، خپل کلي مې لـه ټولـو رنګينـو او زړه وړونکې ښـکلا سره سره پرېښـود ، پـه غونـډيو او لمنو کې د ګلونـو ورېم خـور و او د مخـامخ غونـډۍ لـه شـا نـه د کلـي د رمـې د ګـونګرو شـرنګا رانږدې کېده، چې د سپين ږيري شپونکي د لارښـوونې لـه مهربانـۍ ډک غږونه ورسره ملګري وو.

کروندګر او نور له کلي وتلي خلک بېرته را روان وو، خو يـوازې زه لـه کلي بېرته وتم، هغوی به د ماښام په تررږمۍ کې يوه شېبه تم شول، مـا تـه به يې په ځير ځير وکتـل، خو چې د کوم نـا اشنا ګومـان بـه يې رابانـدې وکړ، نو بېرته به روان شول او سترګې به يې پـه کړکيـو او بـامونو لګېـدلو څراغونو پسې واخيستې.

زه زړه ماتی وم، ځان راته تر ټولـو ناکـام او نـاهيلی ښـکارېدو، غوښـتل مې هېڅوک هم زما د ورکېدو په راز پوه نه شي او کليـوال تـر عمـره عمـره د يوه زلمي د ناڅاپي ورکېدو کيسه په ياد وساتي او د دوبـي لـه دا ډول ګرمو ماښامونو سره زما نوم هم تړلی وي.

زه دومره په منډه او ترهه لاړم چې شېبه وروسته مې کلی له سترګو پنـاه شـو، يـوازې د لـوړو ونـو پـه څـانګو کـې پنـاه او تـت سـيوري ډېبـدل او ښکارېدل، کټ مټ لکه زما زړه چې انديښنو او ناهيليو لاندې کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه وروسـتي ځـل مـې دا هـر څـه لـه سترګوتېر کړل او د يـوې شنې خـو اغزنې دښتې پای ته رسېدلی وم، دلته هم هرڅه خپلو ځالو تـه ستنېدل او دخوښۍ غږونه يې ايستل، بيا هم يوازې زه ددوی خلاف روان وم.

د دښتې په پای کې راته يو ستر او دنګ غر مخامخ ودرېد چې سر يـې تر اسمانه رسېده او په سر يې سپوږمۍ ځرکونـه وهل، ما کلـه هـم دومره لوړ او دنګ غر نه و ليدلی، غوښتل مې پرې وخېژم، خـو چې کتـل مـې د ختو يوه لاره هم نه لرې.

حيران ولاړ وم، په تياره کې يـوې نرۍ لارې تـه ځير شوم ځای پـه ځای کښېناستم، ستا د پلونو خاپونه او خوشبويي په کې وه او پـوه شوم چې ته له ماوړاندې ددغه غره لومړۍ ختونکې يې.

لاره مې بدله کړه، شپېه وروسته يوه لوی سمندر ته ورسېدم چې بله غـاړه يـې نـه ښکارېده او د دښـتې غونـډې پراخـه و، د سـاحل پـه غـاړه سـتړی کښېناستم، کبان خپلو غارونو ته ننوتي وو.

له ساحل نه مې يو موټی خاوره را اوچته کړه، ستا د بدن خوشبويي پـه کې وه او چې ځمکې ته مې وکتل، نو ستا د پلونو نښې لا نه وې ورانې او شکېدلو بوټو ښودله چې تا هم د پورې وتلو لپاره لومړي قدمونه همدلته ايښي.

بيا مې لاس په تندي کېښود او لاره مې بدله کړه، له لنډ مزل وروسـته دايرو او سکروټو يوه ستر امبار ته ورسېدم چې بل خـوا تـرې يـوه لاره هـم

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وه ، ایرې په مړې کېدو وې، خو بیایې هم د شپې په زړه کې سپرغۍ شیندلې، له ناچارۍ مې په همدې ډېرۍ لومړی قدم کېښود ، خو چې کتل مې له ما وړاندې پرې چا قدم ایښی، ورتېت شوم، بیاهم ستا د وجود وږمه او د سوو وزرونو بوی په کې و.

لاره مې بدله کړه او په همدې تیارو او نابلده لارو له اوږده مزل وروسته مې پام شو چې د یوه اوچت ګړنګ په سر ولاړ یم او په زرګونه متره لاندې ساحه کې داسې تیاره خوره ده چې هر سیوری په کې وېرونکې او خوړونکې بلا ښکاري.

ځای په ځای کېناستم په یوه تېره ډبره مې لاس کېښود او لوندوالی مې حس کړ او چې سترګو ته نږدې کړ، نو تازه وینې وې او ستا د وجود خوشبویي یې شېندله ، پوه شوم چې دلته هم له ما وړاندې ته در دېدلې یې .

نور نو راکې د مزل حوصله نه وه پاتې، پوهېدم چې هر لوری او پړاو له ما نه وړاندې تا لیدلی، بېرته را پاڅېدم، د کلي په لور را روان شوم او خو چې کلي ته را رسېدم، نو شپه تېره وه او د سهار مهربانه لمر کلی په غېږ کې اخیستی و ، خو زما اوږدې د ناهیلیو له درانه بار نه سپکې وې، مخامخ راته تا له مینې ډکه غېږ خلاصه کړې وه او په موسکا دې راته وویل: "راشه! ایله اوس دې زه ومندلم، خپل منزل ته پخیر راغلې!"

۲۰۱۳ جنوري ۱۸مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وروستی مابنام

زه پوهېدم چې یوه ورځ به مې روغ زړه د ایرو په امبار او د سوو خاورو په یوه داسې ډبرۍ بدلېږي چې د وړلو لپاره به یې له صحرایي بادونو پرته زما اهونه هم دغه دنده تر سره کولای شي.

زه ان هاغه وخت پوهېدم چې زما دخبرو په مهال به ستا سترګې د لویې لارې د یوه نا اشنا مسافر غوندې په لرې پړاوونو کې خښې وې او زما د درد کیسې او ارادې ته به دې یوازې د سترګو او بڼو په مړاوو حرکتونو او خاموشه ژبه ځوابونه ویل.

زه پوهېدم چې ته له ما سره یې خو سترګې دې ډبرې وړاندې په هغه دښته کې ګنډلې چې یوازېتوب او چوپتیا یې ستا د ورتلو لېونی انتظار باسي او تلونکو سیورو درته لارې نیولې دي، ستا په نظر کې د هغه وبرونکي او وروستي مابنام وېره وه چې ډېر وړاندې درته داندېښنو او حسرت د غرونو په لمنو کې تم و.

تا په همدغه څو شپېو کې یوازې د همدې سوچونو په جال کې نښتې وې چې په هغه لور دې مزل ملګری نه شته او په کنډو کپر لارو به دې هېڅوک هم دتندیک خوړلو پر مهال دلاس نیولو لپاره نه وي ولاړ.

ته په ما او ژوند دواړو بې باوره وې، سره ددې چې زه دې ژوند وم، خو د ژوند په خبر درته نه ښکارېدم او زما د زړه پټې اندېښنې دې زما د پښیمانۍ د نښو او څلو په نوم منلې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا اخېر دې ته هم نه کتل چې ما له ټولو خلکو مخه ښه کړې وه ، د سفر جامې مې په تن وې او له وړاندې پړاوونو مخکې مې ستا په پښو کې د یون حوصله او د خپلې رنګین ماضي تت خو ښکلي انځورونه لیدل.

زه له تا سره یو ځای روان وم، خو تا دا حس نه کړه، چې زما د یون لوری کوم خوا دی او چېرته ځم؟ زما ګناه یوازې دا وه، چې ما دا جریت او بې ادبي ونه کړه چې ستا نه وړاندې شم او ته دې پلونه مې دې ستا تر قدمونو لاندې شي.

زه ستا په سترګو کې د مزل د پیل یوې اشارې ته تم وم، په سترګو کې مې د اجازې غوښتنه کوله، خو تا نه حس کولم، د هغه پیغمبر غوندې دې په سپېڅلي نظر اسمان ته کتل چې د وحې د راتلو انتظار وي، خو په ځمکه ولاړ هغه کس نه دې ونه کتل چې کتو او یوې اشارې ورته د وحې مانا درلوده.

بالاخره هغه شېبه راغله چې ته روانه شوې، له سره دې تر ژبه لاندې مخه ښه وکړه او همداسې روانه شوې، د مازدیګر په ګردونو او طلایي وړانګو کې مې له سترګو پناه شوې، خو زه لا هم په درناوي او خاکسارۍ همل‌ته ولاړ یم، یوازې دومره احساسوم چې زړه مې د پخوا غوندې روغ نه دی او سترګې به مې له نني ماښام وروسته د راتلونکي دغه ماښام سپوږمۍ ونه ګوري.

۲۰۱۳ فبروې ۱۷ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتله

په دې ترږمیو او تیارو کې اوښکې مه تویوه، د کوټې په کونج کې ستا د خاموشه سلګیو سونۍ سونۍ هېڅوک هم نه اوري خو ته به قاتله شې.
ته پوهېږې چې هره شېبه په خپل ستوني کې څومره تاندې سلګۍ وژنې؟
ته ولې له خپلو سترګو د خوب طلایي مرغان بېنوا شړې؟

هغوی اخر په دې ګلابي اسمان کې کوم خوا الوت وکړي، هغوی خو تا ته ستا د محبوب له پیغام سره راځي، دا ګناه خو ستا دهچې دغه قاصدان له راوړي پیغام سره خپل حضور ته نه پرېږدې، نور نو دا سلګۍ او خوبونه مه وژنه، هسې نه چې څوک در ته قاتله ووایي.

۲۰۱۲ ، د اپریل لومړۍ نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غرنی ګل

یو کلیوال سړی تر ټولو اوچت غره ته وخوت، د پسرلي ښکلا او غرنیو منظرو ترې سترېا هېره کړې وه، نا اشنا او نوي غرني ګلونه یې له سترګو تېربدل. د یوې ډبرې په څنګ یې په راشنه شوي غرني ګل سترګې ولګېدې، له زړه نه یې خوښ شو، بله لاره یې ونه لیده، مجبور شو چې له رېښو سره یې را وباسي.

ګل یې له ځان سره کلي ته راووړ، تازه غوړېدلې څانګې یې یو څه مړاوې شوې وې. د خپل کور د انګړ د نورو بوټو ترڅنګ یې په خاورو کې خښ کړ، اوبه یې ورکړې او خپله د انګورو د تاک سیوري ته ویده شو، ساعت وروسته یې چې سترګې وغړولې ګل مړاوی او ښکلا یې له لاسه ورکړې وه. کلیوال سړی غوسه شو او ګل ته یې وویل:

ته څومره کبرجن او مغرور یې! هلته دې په هاغه وچ کمره کې نه خاوره د خاورې په څېر وه او نه دې په مړه ګېډه اوبه لیدلې وې، دلته مې هرڅه در کړل، نرمې خاوره، د منګي له اوښکو رڼې اوبه، خو بیا دې زما په انګړ کبر وکړ، هسې مې درسره دومره نیکې وکړه او ځان مې سترې کړ.

کلیوال بېرته ویده شو، خو د مړاوي شوي غرني ګل درد او فریاد هیڅا هم هس نه کړ، د هغه چیغو ټول کلی په سر اخیستی و او د ماتو څانګو له درده یې نارې وهلې ... " انسانه! ستا مینه څومره له وحشته ډکه ده، تا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅکله هم د خپلې مينې مقام او منبر ونه موند ، ستامينې لا هم د عقل جامې نه دي اغوستې او خپل بربنډوالی درته نه ښکاري، تا لا هم د ازادۍ لاره نه ده ليدلې او نېکيو دې د زرګونو بديو جامې اغوستې ..."

زه خپل کليوال په ګاونډ کې د خپلو کتابونو منځ کې ويښ ناست وم، د غرنې ګل خبرې مې واورېدې او ډېر نور کليوال يې هم په ژبه پوه شول، خو هغه سترې کليوال اوس هم په خپل انګړ کې د انګورو تر تاک لاندې ويده دی.

۲۰۱۴ د مې ۱۲ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه او دعا

هر وخت مې چې د ناروغۍ په بستر د ارام ساه اخیستې، نو پوهېدلې یم چې ستا په زړه کې د دعا الفاظو غزونې کړې، خو غربو دومره نیولی یې چې د شونډو خوځول هم درته ګران ښکاري. زما لپاره همدا بس ده چې در یاده یم او په دې له ټولو خلکو ښه پوهېږې چې ولې ناروغه یم او کله به روغه شم.

اوس زما دعا ګانې له هغه چاسره ملګري دي چې هر سهار مابښام مې راته لاس په نام ولاړ دي او د دې ښار په غوره طبیبانو مې ګرځوي، رښتیا هم هغوی څومره پاک زړي دي، کاش ستا په ځای له دوی نه پر یوه مینه شوې وی او د طبیبانو وخت مې نه ضایع کولی.

۲۰۱۴ د مارچ ۳۱مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نالوستې مينه

کله مې چې خپل وروستۍ شعر بشپړ کړ او په پوره درناوي، ستا په حضور کې د هغه وړاندې کولو ته حاضرشوم، نو ستا شونډې درېدلې او سترګې دې د شعري پاڼو پر ځای زما د قلم په ډډو لګېدلو طلايي غميو کې ګنډلې وې.

ايله هلته وپوهېدم چې خپل ټول شعرونه مې يوې نالوستې مينې ته ليکلي دي.

۲۰۱۳ اکتوبر ۱۹مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شېبه

اوس هره ورځ د لمرختو او غروب پر مهال، د خپل ژوند د کتاب خورې
ورې پاڼې او تت بابونه يو پر بل پسې اړوم، خو تر اوسه مې هم په
کې داسې يوه شېبه ونه مونده چې په کلي کې زما د ماشومتوب د
ماښامونو په څېر ښکلې او د شاعر د خوبونو په څېر رنګينه وي.

۲۰۱۳ اکتوبر ۱۷ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنتي وږمه

ماشوم وم، مور مې يو غرنی ګل راکړ، بې رنګه او باد وهلی معلومېده، د مور سترګو ته مې وکتل او ګل مې بوی کړ، په ذهن مې د کليوال پسرلي جادويي وږم خور شو، يوې جنتي وږمې په خپل پلو کې را ونغاړلم.

د فطرت سينګار شوې ناوې غاړه راکړه، غرونو ته وختم، په سيندونو کې ورک شوم، په چينو کې وبهېدم او د هوا له څپو سره مې لوبې وکړې، خو چې بېرته را ستنېدم، نو د مور له هر پل سره مې له ګلونو ډکې تاندې ونې ولاړې وې او له هرې ډبرې سره يوه لګېدلې شمعه ابېښې وه.

۲۰۱۴ د جون ۴مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پته ښکلا

مورږ دواړه د ژوند په سمسوره دښته کې د باد له مسیر سره څنګ په څنګ روان وو. یوازې خپلې لارې ته مو کتل، شا وخوا ښکلاوې او منظرې مو نه لیدې.

په یوه دمه ځای کې تم شوو. پاس اسمان ته مو وکتل، یو قوي او د غښتلو پنجو لرونکی شاهین په هوا کې د باد د مسیر خلاف روان و، په پوره شهامت یې وزرونه خوځول او طلايي ښکو یې لمر ته خپله ښکلا او ځلا شیندله.

په همدې شیبه زه غلی وم، خو هغه پوهېده چې د څه په اړه فکر وړی یم، لکه زما خیالونه چې لولي راته وویل: باید همت وکړو، ځکه چې رښتینې او پټه ښکلا له همت او شهامت سره ځلیږي او زموږ ښکلاوې د بې همتۍ، وېرې او کمزورۍ هوډ تر پردو لاندې په مرګونې خوب ویدې دي.

۲۰۱۴ د جولای ۷مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کاغذي ګلونه

هغه ښکلې ورځ در یاد کړه چې د پسرلي په شنه سهار درته په بڼ کې د ساعتونو ساعتونو انتظار وم او له لمر راختو سره دې د ګلونو یوه ګېډۍ راکړه، پرته له دې چې ورته وګورم، ګلونه مې غېږ کې ونیول او ستا د مخ په ننداره وم.

کله چې روانېدلې، زما سترګې له اوښکو ډکې شوې، ستا راکړو ګلونو ته مې پام شو، خو وږمه او نرمي يې نه وه. په لومړي ځل مې د کاغذي او مصنوعي ګلونو ډالۍ ولیده او د بڼ رنګا رنګ ګلونو ته مې وکتل.

۲۰۱۴ د فبروري ۶مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اې زما ستونزو !

اې زما ستونزو! د دې نړۍ ډېر دردېدلي وګړي له تاسې شکایت کوي، د شپې او ورځې په پټه او ښکاره په چیغو چیغو ژاړي، په ترورېمیو او لمر ځرک کې سلګۍ وهي، خپلو دوستانو او خواخوږو ته خپل دردونه او شکایتونه بیانوي، د هغوی د درد او ستونزو کیسې، کوڅه په کوڅه، کلي په کلي او ښار په ښار د سکروټو په څېر خورېږي، ډېر نور خلک یې هم په اړه سوچونه او پټې خواخوږۍ څرګندوي.

دوی د خپلې نړۍ د بې وزلو او دردېدلو وګړو په نوم ستایي او دا چې لا هم په دومره درد او ستونزو کې ژوندي دي، د اتلانو او درحم وړ انسانانو په توګه یې یادوي، خو داسې کسان هم کم نه دي، چې په دوی پورې خاندي، له درد او زګېروو یې د یوې ښکلې سندرې په څېر خوند اخلي، که مخامخ نه وي نو په ذهن کې ورسره ناځي.

زه بیا له دوی نه بېخي بل ډول یم، له تاسې او د خپل ژوند له بل هر کړاو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره له زړه نه مینه لرم، حتی هغه وخت مې هم زړه نه ماتېږي چې د خپل پلار په قبر د ګلونو ګېډۍ ږدم او په هدیرو کې د خپلو نوم ورکو دوستانو بې نښو مزارونه لټوم.

اې زما ستونزو! زه مو په بیا بیا مننډوی یم، بیا بیا مو په خپلو شعرونو او سندرو کې د شکایت په ځای بې ساري ستاینې کوم.
همدا تاسې وئ چې زما زړه مو صیقل کړ، زما ذهن او ضمیر ته مو د صبر او استقامت طلایي پوښ ورکړ. همدا تاسی وئ چې ما ته مو خپل دوستان او دوښمنان په ښه ډول را وپېژندل او له سلګونو مخ پټو څېرو مو تور نقابونه لرې کړل.

ستاسې له برکته زه اوس په سلو څېرو او سلو نقابونو کې پټ انسان پېژنم، په شونډو نخېدلې زهرجنې او د شاتو په څېر خوږې موسکاوې سره بېلولم شم، اوس مې پرېکړه کړې چې له ډېرو تش په نامه ښاغلو دتل له پاره لاره بېله کړم.

څکه اوس راوېښ شوی یم، د دې پر ځای چې له چاسره متقابل عمل وکړم، لاره ترې بېلوم، حتی هېروم یې، د خپلو خوږو دوستان له البم نه یې تصویرونه سیند ته غورځوم، باید همداسې وکړم، څکه اوس د خپلو دوستانو په سترګو کې د لومړي نظر په مانا پوهېږم او راته څرګندېږي چې هغوی راسره د ژوند تر کوم پړاوه ملګري کولای شي!
اې زما ستونزو! همداسې تاسې وئ، مننه درنه کوم چې د ژوند په رېښتني مانا مو وپوهولم او د دوستانو د انتخاب ځواک او شعور مو

(c) ketabton.com: The Digital Library

راکړ، اوس په دې پوه شوم چې لارې مې له چا سره شریکې او له چا نه بېلې دي.

ډېر ښه وشول، د ژوند په قدر پوه شوم، له یوه درانه خوبه مو راویښ کړم، که تاسې نه وئ، نو تر ننه به د بې پروایۍ او خوشباورۍ په رنګین سمندر کې ډوب وم. هیله ده چې یوازې مې پرېښې دي، زه د اسرافیل تر شپېلۍ پورې درسره مینه لرم او په خپله تووله لېوالتیا مو غواړم، هغوی چې په ژوند کې تاسې نه لري، نو د ژوند په مانا هم نه پوهېږي!

۲۰۱۳ مې ۱۸مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انځور

د باد د ډېرې کمزورې څپې له را الوتو سره هم سترګو ته لاس نیسم، ددې لپاره نه چې زه له بادونو سره نا اشنا یم، یوازې ددې لپاره چې زما په سترګو کې ستا د وروستي دیدن پرمهال پاتې انځور وران نه کړي

.هسې نه چې له ورانېدو سره یې په خپلو کسو کې ستا د تازه انځور د کښلو پرمهال مې ذهني ګډوډۍ واخلي او ستا د ښکلا په انځور کې رانه دروغ وویل شي.

۲۰۱۴ د مې ۸مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ستا لپه

کله چې د تګ پرمهال سترګې پټې او لاسونه راته په دعا اوچت کړې، نو د خپل منزل له راتلونکې سترو څخه بې پروا په یوه بله رنګینه نړۍ کې ګرځم، هغه نړۍ چې جنتي هوا لري او ما پرې د سکون نوم ایښی.

زه پرښتې ګورم چې د دعا د امین له پاره دې لیکه ولاړې وي او د اسمان په لور په خوښۍ پروازونه کوي، ما هم په وزرونو ورسره واخلي، د منزل په لور مې په هوا کړي، خو چې تا همغسې پټې سترګې ولاړه وګورم، نو زه هم درته تم شم او پښې مې بېرته په خاورینه ځمکه مېخ پاتې شي.

زما تګ له ځومره درد او ستا دعا له څومره سپېڅلو رازونو او نازک خوږلت ډکه ده. هو زه نور ځم، لپه دې پر مخ راتېره کړه، هسې نه چې په دغه شېبه د اسمان له اوښکې ډکې سترګې هم له درناوي بندونه مات کړي او ستا اوښکې په کې ورکې شي.

۲۰۱۴ مارچ ۳مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وچ شوی ګل

ګل دې راکړ او ولاړې، ستا انځور تر ډېره د همغه تازه ګل په پاڼو کې پاتې و او د ګل د ښکلا یوه برخه شو.هو! له ما نه دا هم هېر شول چې در پسې وګورم، و دې څارم او په زوره زوره درپسې چیغې ووهم، خو نه پوهېږم چې تا د راکړي ګل په پاڼو کې څنګه اثرناکه او خماري وږمه شیندلې وه چې زه یې له ځمکې سره د ونې په څېر کلک وتړلم.
اوس چې ستا د بېرته را ستنېدو شېبې را لنډې شوې، نو زما زړګی په رېږدېدو دی، ګوتې مې لړېږي او له وچ شوي ګل نه یوه یوه پاڼې ځمکې ته لوېږي.

ستا هر کلی رانه هېر دی، په یوه ښکلي عذاب کې راګیر یم. کله چې ته ماته را ورسېږې او زما په لړزانده ګوتو کې خپل وچ شوی کل وګورې، نو زه به څه ځواب درکوم؟ کاش چې طبیعت ژبه درلودی او هوا درته هغه ټوله کیسه کړې وې چې ستا په نه شتون کې دلته په ما تېره شوه او رېښو مې د خارو رنګ واخیست.

۲۰۱۴ فبروري ۲۳ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چې پسرلی شي

له پسرلي سره؛ ددې لپاره نه چې غرونه او لمنې شنې کېږي، ددې لپاره نه چې له ويالو او سيند غاړو د لنده بل او له دښتو او لمنو د سپېلنيو او شينشوبو بوی راځي، ددې لپاره هم نه چې کروندې، پولې او پټې به د شپانه د شپېلۍ او د ژمي سړو وهلي کروندګر د سندرو غږ واوري.

ددې لپاره هم نه چې د باران ميده ځاځکي او د ناوو مترنم اواز به راته د ماشومتوب د پاچاهۍ څو تللې ورځې بېرته را يادې کړي ، يوازې په دې ورسره مينه لرم چې په راتلو يې ستاسې د دروازې او انګر په منځ کې ولاړې ونې هم هغسې ګلان او رنګونه شيندي، له کوم رنګ چې تا خپلې ټولې جامې ګنډلې.

اوس داسې فکر کوم چې د کوڅې د ټولو کورونو په دروازو او انګړ کې ولاړو ګـــــــــــــــــــل ونـــــــــــــــــــو ستا له جامو رنګ اخيستی.

۲۰۱۴ د فبروري ۲۳مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خدای زور

مور مې راته وايي:

زويه! ته زما د نورو اولادونو په څېر يو اولاد يې، خو هر وخت چې د خلکو منځته ننوتې د هغوی خدمت دې وکړ، د سپين ږيري او بوډۍ لاس دې ښکل کړ، د همزولو قدر دې وکړ او د ماشومانو په سر دې لاس راتېر کړ؛ نو هلته به يا د خلکو په منځ کې خپل ځان پيدا کوې. کوښښ کوه چې په خلکو کې ژوند وکړې، له خلکو لرې ژوند مرګ دی، ته کمزوری يې خو که د خلکو منځ کې وې؛ نو ستر ځواک يې، زموږ نيکونو ويلي چې"د خدای زور د خلکو زور دی"

۲۰۱۴ د فبروي ۲۰ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما خوښي

زما پـه هره خوښـې بیـا هـم د غـم او ویـر سـیوری خپـور و. زه هېڅکلـه وزګار نه شوم چې خپله خوښي ونمانځم او له خدایه د هغو څو شېبو مننه وکړم چې زه یې په کې ستا د مینې په اسمانۍ ډالۍ ونازولم.

زه پوهېږم چې زما د وزګارتیا او مننې کولو وخت هغه مهال راځي، کله چې ستا په لور د یوه اوږده سفر لپاره ملا وتړم او له خپلو ټولو مینـه ګـرو ملګرو سره په مینه مخه ښه وکړم.

۲۰۱۴ د جون ۱۳مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انسان او خدای

سره له دې چې د خدای"ج" په شتون او عظمت یې پوره باور درلود، بې ساري مینه یې ورسره وه او د ځمکې پرمخ یې د هغه د استازي په توګه یوه سپېڅلې دنده اجرا کوله، خو د ادم د دغه زوی په زړه کې بیا هم دا هیله وه چې خپل محبوب مخامخ له نږدې وګوري.

خدای"ج" ورته وویل چې د دې غوښتنې په اړه دې کوم ممانعت نه لرم، خو ته به یې توان ونه لرې او زما لیدل به درته ګران وي، خو بنده د خپل فطرت له مخې همغسې شله و، غوښتل یې خپل محبوب له نږدې وګوري او خپله دا غوښتنه یې پوره شي.

خدای"ج" ته ګران و او غوښتنه یې قبوله کړه، په یوه توره وهمناکه شپه یې خپل نور د طور پر ځمکه ور وښود، د تلوسې اخیستې انسان سترګو د دغه نامریي جلوو د لیدلو تاب ونه درلود، په کمزوري زړه یې ضعف راغی او په هغه ځمکه ځای پر ځای کېناست چې د خپل خالق د ښکلا او عظمت جلوو په خپل نور کې رانغاړلې وه.

کله چې را په خود شو او خپله نړۍ یې حس کړه، بیایې نو هېڅ وخت هم دا غوښتنه ونه کړه او سر په سجده پرېوت، ټولو کایناتو یې نندار کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای هم په مینه ورته کتل. دا د خدای"ج" او انسان تر منځ لیدنه وه. دې انسان له دې پېښې وروسته خپل پیغام ټولو پیروانو ته ورساوه او د ټولو باور د خپل خالق پرعظمت او مهربانۍ لا زیات شو.

له هغې ورځې پېړۍ او زماني تېرې شوې، خدای"ج" خپله مینه، مهرباني او غضب په بېلابېلو بڼو انسانانو ته ورښکاره کړ، خو اوسنی انسان دومره سپین سترګی شوی چې سترګې یې د دې مینې او مهربانۍ پر جلوو هم نه برېښي، ښایي ړوند شوی وي چې د خپل خالق مینه او غوسه نه شي درک کولی.

دا خو لا پرېږده، هغه ځمکه یې هم په خپلو وینو ولړله چې په طور کې خدای"ج" د خپل جلال او جمال په نامریي جلوو ښکل کړې او وینځلې وه، د هغه ګران استازي پرې هملته سجده لګولې او د بندګۍ تلپاتې ورمې یې پرې شیندلې وې.

د اوسنۍ زماني انسان، چې د خدای"ج" مینه او مهرباني نه شي درک کولی، زړونه یې د جلال په نوراني وړانګو نه دي لمبېدلي؛ نو د جلال او غرور وېره هم د هغه په وجود کې ځای نه لري، دی چې خپله ځان د جلال او جمال خاوند ته نه ورنږدې کوي، نو هغه به څنګه دده سره مینې او خبرو ته را وړاندې شي.

۲۰۱۴ د مارچ ۱۰ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښځه

ته د اور او وینو د هېواد، هغه په وینو سره ګلغوټۍ یې چې خلک دې یوازې له رنګ او ښکلا خوند اخلي، خو کله یې هم دا سوچ نه دی کړی چې ستا سور رنګ له څه جوړ شوی او ولې په وینو سره یې؟
ته هغه اسماني پرښته یې چې د خدای په نړۍ کې، په اور سوې او سوزنده ځمکه را کوزه شوې، خو د دې پرځای چې د پښو نازکې ګوتې دې، له سوزېدو وساتي، خپل مخ دې راپټ کړ، خپله انساني ښکلا دې په تور پړوونې کې را ونغاړله.

ته پرښته یې! ته د نارینه ښکلا او ځواک یې، ته هغه پرانېستې کتاب یې چې هر څوک دې نه شي لوستلی او په ژبه دې یواځې هغه کسان پوهېږي چې د معنویت په اوبو یې خپلې سترګې وینځلې وي. هو ته پرښته یې! هغه پرښته چې په سپینو جامو دې د دې خاورې غبار او لوګی پرېوتی، خو رنګ دې نه دی بایللی.

۲۰۱۴ د جنوري ۲۹مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ازادۍ ورېمه

مور يې په زندان کې وه. تل به يې خپل کوچني ماشوم ته چې په زندان کې زېږدلی و، د بهرنۍ او ازادې نړۍ کيسې کولې. خپل ماشومتوب به يې ورته يادوه، خو کوچنی زوی به يې له خبرو سټړی شو؛ د زندان د تنګې کړکۍ په وسپنيزو پنجرو به يې نازکې ګوتې کېښودې او بيا به يې سر د مور په غاړه د ننه کړ، د ازادۍ ښکلې ورېمه به يې حس کړه.

د مور سترګې به يې هم له اوښکو ډکې شوې، حالت به يې هغې ښوونکې ته ورته و چې په درس پوهېږي، خو خپل زده کوونکي نه شي پوهولی. پوهېده چې خپل ماشوم ته ښکلي دروغ وايي، زر به يې پنجرې ته شا کړه، په تنګه کوټه کې به تياره خوره شوه او نور به نو د دې سيوری هم نه ښکارېده.

۲۰۱۳ دسمبر ۲۹ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په خدای دې سپارم

د مخه ښې پرمهال مې مخې ته مه ودرېږه، هسې نه چې په چيغو چيغو ټوله کوڅه خبره کړم او ته له هغه سفره پاتې شې چې زما لپاره يې کوې. زه چې اوده وم، ته پاڅه، ولاړ شه او چې له کوره ښه لرې شوې، نو په خپلو غوږونو کې ګوتې کېږده، يا دې مبايل کې کومه سندره اوره، ځکه چې هلته به زما چيغې د تم کېدو نه وي او نه به د چا پروا ولرم.

مه بې زړه کېږه، هر څه په زړه تېر کړه، خو راستون نه شې، ځکه ستا سفر زما لپاره دی او زه مې خپل ګران ته ځای پرځای ناستې نه، حرکت او سفر غوره ګڼم هو ګرانه!

په خدای دې سپارم!

۲۰۱۳ د اګست ۱۳مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دروغ

کله چې ټول طبیعت زما د محبوب جامې واغوندي او هره خوا راته یوازې د هغې په څېرو پوښلې ښکاره شي، نو زما خپله څېره به هم پردۍ وي، ځکه چې زه هم د طبیعت یوه برخه یم او ټولو ته به په کې ته ښکارې، اوس راته ووایه چې تا له خلکو څنګه پټه کړم او تر کومه به ورته دا کمزوري دروغ وایم چې زه دې نه پېژنم؟

۲۰۱۳ د اپرېل ۱۰مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سندرغاړې

همدا اوس مې هم په غوږونو کې ستا د تازه سندرې شور ځپې وهي، په تالار کې د ناستو کسانو د لاسونو چکچکو مې د اورېدو حس دومره کمزوری کړی چې د خپل زړه دربا هم نه اورم.

باید ووهېږې چې ما درته هېڅکله هم لاس نه دی پړکولی، زه هېڅ ته هم د کاذب شخصیت ورکولو عادت نه لرم. ما درته په تالار کې ډېرې چیغې ووهلې، چا مې غږ وانهورېده، دا دې یو ځل بیا درته وایم:

هغه ښاغلي چې تا ستايي او چکچکې درته وهي، هغوی ستا د هنر، اداګانو او سندرو مینه وال نه، بلکې ستا د وجود او ښکلا لېونیان دي، ځکه ستا هنر لا هغه مقام ته نه دی رسېدلی چې په زرګونو زړونه په یوه شور وپاروي.

۲۰۱۳ د نومبر ۳۰مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوندۍ کیسه

څو پېړۍ وړاندې په دې جونګړه کې يو مين اوسېده، د شاوخوا ټولو کلو لارې او کوڅې يې له زهيرو او کاواکه قدمونو سره اشنا وې، خو هېڅکله هم پر دې بريالی نه شو چې د رواجونو له فولادي دېوالونو او سرو کرښو هاخوا د خپلې مينې په رنګينه نړۍ کې قدم کېږدي. هغه په خپل دې ارمان پسې ملنګ او يوه شپه په خپله جونګړه کې له يو عالم ناهيليو او ماتو سره مړ شو. پاک زړو کليوالو له هديرې لرې په خپله جونګړه کې خښ کړ، خو د مينې کيسه يې ژوندۍ پاتې شوه.

يوه پېړۍ وروسته يې د هغه پر جونګړه يو ښکلی زيارت او دنګ څلی جوړ کړ، په ډېر کم وخت کې په ټوله دره کې د يوه لوی انسان په نوم مشهور شو. اوس ورته سهار او ماښام مينان راځي، د زيارت جنډې يې ښکلوي، تر همدغه دنګ څلي لاندې اوښکې تويوي. له دوی نه هر يو له خپل محبوب سره ترې د وصال هيله او دعا کوي، خو هغوی نه پوهېږي چې تر دغه څلي لاندې ويده انسان خپله هم په همدې ارمان له نړۍ سره مخه ښه کړې او تر دوی هم بې وسه و.

۲۰۱۴د اکتوبر ۳۰مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ټکنالوژي

د پوهنتون د مطالعې او معلوماتو په تالار کې د پوهنتون یوه افغان پروفیسور په بشري ژوند د معاصرې تکنالوژۍ د اغېزو او سترو ګټو په اړه لکچر ورکاوه.

د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو محصلین او د همدې پوهنتون استادان ورته غلي ناست او د پروفیسور مطالعې او معلوماتو ته ګوته په غاښ وو.

پروفیسور له یو ساعت لکچر وروسته د ګډونوالو په چکچکو بېرته خپلې څوکۍ ته را کوز شو، ټول ورته د درناوي په دود په خپلو ځایونو کې ودرېدل او په سترګو کې یې ورځخه بې ساري مننه په څپو وه.
له څنډ پرته د څو دقیقو تفریح لپاره د ستیج شاته د ټلویزیون لوی لګېدلی سکرین روښانه شو، د کوم اروپایي ساینسي ټلویزیوني چینل خبرونه پیل شول .

د امریکا د ناسا ادارې د نوو پرمختګونو او سپوږمکیو په اړه تازه راپور خپرېده، په مریخ او نورو سیارو کې د انسانانو د ژوند د امکان برابرولو په هځو خبرې روانې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د راپـور لـه خلاصـېدو سره پـه ټلويزيـون ناڅاپـه د افغانسـتان تصـوير راغی، د چاپېرياال او طبيعت په اړه يو راپـور پيـل شـو، د ختيځنـو کورونـو ور هـا خـوا پـه غرونـو او کرونـدو کـې خلکـو د ځـان تودولـو او سـونګ د لرګيو لپاره شنې ونې پرې کولې.په بله صحنه کې څو ماشومانو د اوبو په روان ټانکر پسې بوشکې په لاس منډې وهلې .

ټولو محصلينو او استادانو د افغان پروفيسور خوا ته سترګې واړولې، د پروفيسور په تندي خولې را ماتې وې او د نيکټايي پـه څنډه يـې ژر ژر خپلې عينکې پاکولې.

۲۰۱۵ د فبروري ۱۳مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړيتوب

درې وا ړو ماشومانو د هوټل مخې ته په پلاستيکي کڅوړو کې کاغذونه او خځلي ټولولې، هوا سړه وه، د باران له يخې څپې سره زړه نا زړه په مخامخ هوټل ورننوتل، د بخارۍ له تودې هوا سره يې د رنګارنګ خوراکونو بوي هم پزې وتخنولې.

د هوټل د خدمتګارانو له وېرې د بوټ وبستلو په ځای کې غلي ودرېدل، د خلکو خنداګانې او خبرې يې اورېدې، څنګ ته په دېوال لګېدلي ټلويزيون ته يې پام شو.

ډله ښکلو کوچنيو نجونو او هلکانو په تودو جامو کې لوبې کولې، په بله صحنه کې د اوږده مېز له پاسه ډوډۍ ورته ايښې وه او خندل يې، له يوه موزيک وروسته بله صحنه را ښکاره شوه د کتابونو له کڅوړو سره په يوه مرمرين دهلېز کې روان وو، د کومې موسسې خارجي کارکوونکو ورته چکچکې وهلې، د ټلويزيون په صفحه په غټو کرښو وليکل شول"ماشومانو ته لومړيتوب"

خو همدا شېبه د هوټل د دوو خدمتګارانو پام ور واوښت، د بخارۍ له څنګه يې لرګي را اوچت کړل او د ټلويزيون څنګ ته په ولاړو ماشومانو يې ور منډې کړې.

ماشومانو له وېرې شاوخوا وکتل، د هېڅ پام هم دوی ته نه و، په يوه منډه د هوټل له دروازې ووتل او تر ورانديې سړک پورې يې د هوټل د خدمتګارانو له وېرې په باران کې منډې وهلې.

۲۰۱۵ د فبروري ۸مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښکلا او ملنګ

په زرګونو ښو او څېرو راڅرګنده شوې، په هره ښه کې تر پخوا ښکلې او زړه را ښکوونکې وې، کله به دې په ښېښه يي پياله کې د بندي سپين نرګس جامې اغوښتې وې او کله به د لرې دښتې د تندي وهلي غاټول په څېر مړاوې ولاړه وې.

تا غوښتل چې په خپلو دې ټولو پردو کې زما ستره مينه و ازمايې، زما له سترګو او زړه نه امتحان واخلې، خو ما په خپله مينه له باور ور ها خوا ايمان هم درلود او ستا په هره ښه کې مې يوازې ستا د زړه او ضمير سپېڅلې وړمه حس کوله.

زه پوهېږم چې دا ته يې او ټوله يوه ښکلا ده چې د يوه ملنګ انسان د زړه او نظر امتحان اخلې، خو نه پوهېږې چې د هغه زړه هم د خپل نظر د پنجرو شاته بنديوان دی او له خپل زندان سره بې کچې مينه لري.

د فبروري ۷مه ۲۰۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توپیر

د روغتون په انتظار خونه کې یې په لرګینه چوکۍ اړخونه بدلول، د روغتون سپین سرې خدمتګاره ور غوږ ته شوه .

زویه اند ښنه مه کوه! خدای به هر څه پخیر تېر کړي، دا د څوم اولاد دی؟

سړي په اندېښنه سر اوچت کړ

پنځم... ټولې لوڼې دي. کاش چې خدای دا ځل زوی راکړي.

سپین سرې لږ جدي او غوسه شوه .

هی زویه! دا څه وایې، لور او زوی یې چا په کې را ایستلي، هېڅ توپیر نه لري، په دې خبره ګنهګارېږې، د خدای غضب به دربانديې نازل شي...

سپین سرې د زوی او لور د برابرښت په اړه خبرې کولې چې د دهلیز په کونج کې له لګېدلي وړوکي لاسپیکر غږ وشو. سپین سرې په منډه ولاړه او یوه شېبه وروسته بېرته هغه کس ته راغله.

مبارک شه! پخیر تېر شو، د اولادونو مور رکه روغه ده او...

سړي خبره ورپرې کړه

یاني بیا هم نجلۍ ده؟

سپین سرې د هو په دود سر وخوځاوه او د سړي په جیب یې سترګې وګنډلې .

زما زبرې... یوازې درې سوه اوغانۍ(افغانۍ) که هلک وی، بیا مې اووه سوه اوغانۍ درنه اخیستې!

**۲۰۱۵ د فبروري ۲مه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سولې ته!

اوس نو ته هم زما د ستومانه ژوند د کتاب په پاڼو کې یوه ورکه هیله شوې. له تا سره زما مینه ازلي وه، ته زما د نیکه د پټکي ګل او د شملې عظمت وې، ته زما د نیا د ټیکري غرور او سپېڅلتیا وې، خو نن د داسې ناولو کسانو تورو منګولو او دروغجنو ژبو ته لوېدلې یې چې په غوښتلو دې شرمېږم.

هغوی چې په تا پسې نارې وهي، له تا سره یوه زره هم مینه نه لري او وجدان یې د جګړې په دوزخي لمبو کې داسې سوځېدلی او تک تور دی چې د مینې په تباشیر پرې د جنت د کلمې یو توری هم نه شي لیکل کېدلی.

ته ډېره سپېڅلې یې، خو دغه پست ضمیره او پلورل شوو سوداګرو له مورږ نه په ډېره لویه بیه اخیستې یې، تا اوس د هغوی په رنګ شوې یې، زما په شعرونو او نورو کیسو کې ستا لپاره یوه زره ځای هم نشته.

زه اوس له دې نمایشي افسانو سره هېڅ مینه نه لرم. ته اوس د جګړې رښتیني کیسه یې او د جګړې له هغو سوداګرو سره اوسېږې چې تش ستا په نوم مین دي، خو روح یې دې په خپلو تورو منګولو له ستوني نیولی. بیا هم هیله کوم، رانه خپه نه شې، زه دې په دې جامو کې نه غواړم.

۲۰۱۵ د جنوري ۱۲مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اریکه

زموږ اریکه ډېره عجیبه وه، نه ماته ځان د هغې ښوونکی ښکارېده او نه هم د هغې پوهه د زده کوونکو په څېر ابتدایي او کمه وه. د ژوند ډېر داسې اړخونه به وو چې ما به له یوې زوایې ورته کتل، خو هغې له بلې او د نظرونو دې اتصال به د بشپړتیا تر پولې رسولو.
زموږ دواړو موخه یوه وه او د فطرت په پټو ښکلاوو پسې سترې ستومانه وو، خو په دې مزل کې مو یو ډېر څه له یو بل نه زده کړل، هغې ماته مینه را وښوده او ما د مینې پاللو او ښکلا ستاینې روزنه ورکړه.
هغې زما په مخکې د خپلې ښکلا زرین کتاب پرانېښت او ما ددې کتاب په تورو او څپرکو کې د ځان ورکولو او د ابدي حسن د موندلو او لټون هنر ور یاد کړ. موږ دواړه د یوه بل ښوونکي او زده کوونکي یو .
زموږ اریکه ډېره سپېڅلې او عجیبه ده، کله چې سره مخامخ کېږو زړونه مو یو بل ته له ډېر درناوي او مینې زرې زرې وي او یو ډول نه هېرېدونکی خوږلت په کې څپې وهي.
زموږ لومړۍ ډالې د یو بل ستاینه او له مننې ور ها خوا په خاموشو ژبو کې پټ رضایت دی چې له پنځو حواسو وړاندې یې له روح سره تار غځولی.

۲۰۱۵ د جنوري ۷مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعرانه عظمت

زه هم نوی ورغلی وم، په ښار کې هر څه راته عجیبه ښکارېدل او په محفل کې لګېدلو شمعو او څراغونو مې سترګې بربښولې. تر ټولو عجیبه راته د خلکو هغه خوښي وه چې محفل ته یې د ښار د سترشاعر د راتلو لپاره څرګندوله او په بیا بیا یې له کوچنۍ ماڼۍ بهر په سرو ګلونو فرش کړې لارې ته کتل.

حیران وم چې دا خلک ولې د خپل ښار دې شاعر ته دومره درناوی لري، شېبه وروسته چوپتیا خوره شوه، ټول ولاړ کسان په تعظیم ودرېدل، د هغه د ګرانښت او درناوي راز را څرګند شو.

د خلکو د یوې کړۍ په منځ کې یو ملنګ مزاجه وچ ډنګر کس مخ پر وړاندې را روان و.

هر چاته یې په موسکو شونډو کتل او لاسونه یې په خپله سینه د درناوي په دود سر په سر ایښې وو، ایله چې د هغه د درناوي او ګرانښت په راز وپوهېدم.

هغه د ښار د واکمنانو او خانانو خلاف له خلکو څو قدمه وړاندې نه بلکې په منځ کې په متینو قدمونو او شاعرانه عظمت سره را روان و. ټولو ورته د شور او چکچو پر ځای په خپلو سترګو او لاسونو د پېرزوینې ډالۍ وړاندې کولې او له ډېر درناوي چوپه خوله، خو له یو عالم خوښۍ سره زموږ په خوا را روان و.

۲۰۱۵ د جنوري ۴مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# معصوم زړه

هغه دومره په رنګونو او سینګار کې ډوبه وه چې زما د لیدو پر مهال یې هم د سترګو او نظر شاهین له مانه ډېر لرې د خپلې ښکلا له دنګ او رنګین غره طوافونه کول. یوازې هغه خبرې مې ورته زړه را ښکوونکې وې چې د هغې ښکلا او شخصیت مې په کې ستایلې و. دا هغه وخت نه پوهېده چې زما له ذهن او زړه نه یې پخوانی معصوم انځور په ورانېدو دی، کټ مټ لکه په کنګل کښل شوی انځور چې د لمر له راختو سره ویلېږي.

هغې خپل ژوند د ځان لپاره بې کچې ګران کړی و ، ما غوښتل چې په خبرو کې مې یوازې سپېڅلی زړه پیدا کړي، خو هغې خپل زړه پټ کړی و، په رنګونو کې د پټې مجسمې ننداره مې کوله، غوښتل یې یو بې الایشه او د معصوم زړه لرونکې ځوان ځان ته تسلیم کړي.

زه مغروره نه وم، خو ځکه ورنه د تل لپاره همداسې روان شوم چې مونږ د یوه او بل لپاره نه وو، زما سترګې د هغې د سپېڅلي زړه او معصومې خبرې د ننداري لپاره تږې وې، خو هغه په خپل ظاهر کې ورکه وه، سترګې یې ښکلې، خو زه په کې نه ښکارېدم او ګڼ تصویرونه په کې ځلېدل.

۲۰۱۴ د نومبر ۱۸مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هوسۍ او ښکاري

د ښکار شوې او تېښي هوسۍ له پاره زورور او کمزوری ښکاري څه توپیر نه لري، د زورور او لوی ښکاري له راتګ سره یوازې کمزوری ښکاري خپل ښکار زورو ته پرېږدي، خو ښکار شوې هوسۍ ترهمغسې څېروونکو پنجو او غاښونو لاندې وي. هغه یوازې په بې ساري حسرت سره د خپلو غوښو د شکولو درد زغمي او په یوه بله بڼه د مرګ او ژوند تر منځ په کشمکش کې راګیر وي.

۲۰۱۵ د مارچ، ۱ نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شیطاني جالونه

ما خپل ماشومتوب د ښار له شور ماشور او مصنوعي رڼاګانو ډېر لرې د کلي او غرونو په طبیعي غېږ کې تېر کړی، د سپوږمۍ رڼا ته مې تر لرې پرتو درو سترګې غړولې او خپله ښېره مې د لومړي ځل لپاره د غرني فطرت په هنداره کې لیدلې ده.

هلته مې روح د لومړي ځل لپاره د سیند، کروندو، ویالو، چونګښو او بادونو له شور او زوږ سره پیوند واخیست، زما غوږونه تر هر څه وړاندې د کلیوالي سوچه سندرو، د شپنو له شپېلۍ، د کوچیانو د رمو له ګونګرو او د زاڼو له کاغ او کوغ سره اشنا شول چې له هرې غریزې څپې یې سپېڅلتیا څڅېده او زه یې د یوې خاموشه سېمفوني روږدی او مین کړی وم.

خو په ځوانۍ کې له دغه جنتي نړۍ محروم شوم، د یوه تبعید شوي په څېر مې سترګې پټې کړې او چې غړولې مې د غږونو د یوه داسې ناپایه سمندر په غاړه ولاړ وم چې مصنوعي شور یې ټوله فضا په سر اخیستې وه.

په هوا کې د زرګونو راګونو او سندرو زمزمې خورې وې چې مخاطب یې نه معلومېده، لوری او تاتوبی یې نه و، دلته مصنوعي سازونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېګانه غرونه زما پر غورونو بد لګېدل، د هرې منظرې او انځور تر شا تور سیوري بهېدل .

په فضا کې ټول غځېدلي مزي په لوګیو ککړ وو، د غرونو زرین سمندر په کې هره خوا لارې کولې ، د ښکلو او رنګینو غرونو دا لطافت هغسې راز او نیاز ته نه پاتې کېده او په یوه زرینه ښیښه هر څه را څرګندېدل او خاص او عامو یې ننداره کوله.

د غرونو دغه بهیر د شپې د چوپتیا پر تقدس هم داغ ایښی و، د سپوږمۍ جلوې په کې ورکې وې، ازانګې یې د ښایښت او سپېڅلتیا تر اسمان پورې نه رسېدې، هر څه د یوه ستړي هوس په لور ښکلې بلنې ته ورته وو؛ نوځکه خو زه ورته له شیطاني جالونو پرته بل نوم نه شم ورکولی.

۲۰۱۴ د نومبر ۴مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورکتون

د بهرني دفتر مدير د خپلې کاري مرکې پوښتنې پای ته ورسولې، په څوکۍ کې يې ارامه ډډه ووهله، يوه بل همکار يې خپله څوکۍ زما لور ته وڅرخوله او له مصنوعي موسکا سره يې زياته کړه.

ښاغليه! دا وې ستا د زده کړې، کاري تجربې او مهارتونو پوښتنې، اوس به دې لږ تېر ژوند ته ورشو، بېخي ماشومتوب ته دې، کېدی شي د ورکتون له يادونو او زده کړې دې څه په ياد وي، څنګه او چېرته و؟

پوښتنه يې راته عجيبه ښکاره شوه، يو کليوال هلک او ورکتون! بيا دا موضوع له کاري مرکې سره څه تړاو لري، دوی فکر کوي چې موږ هم د بهرنيانو په څېر عمر تېر کړی!

غلی وم، هغه بيا موټې کړې لاسونه تر زنه لاندې کړل او د عينکو له پاسه يې راته وکتل. ولې غلی شوی، يو څه ووايه، کله کله بايد داسې عجيبه پوښتنې هم ځواب کړې...

همغه شېبه مې ذهن د دفتر له رنګينې ماڼۍ او بيا د ښار له سترياوو او شور ماشور ډېر لرې والوت، سترګې مې پټې کړې، ماشوم شوم، په خټينو کوڅو کې د ماشومانو شور ماشور، د مرغانو چغ او چوغ، په خاورو سپېره او په لوبو بوخت همزولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما وړکتون، زما د مور غېږ وه، زما مور يوازې زما پالنې، خوښ ساتلو، نازولو او لويولو ته کار ويلی و، هغې ټوله نړۍ زما لپاره د خپل کور ځلورو دېوالونو ته راوړې وه، هغې خپلې ټولې خوښې، هيلې، خنداوې، نازونه، وياړونه، ستره مينه او ... ماته راکړي وو.

زما د وړکتون دروازه زما د مور غېږ وه، ما د يوې لويې کلا له سترو دېوالونو ليدل چې وړاندې په سترو ونو کې پسرلني مرغان خپلو بچيانو ته له ځالو د الوت، لرې باغونو ته د تګ راتګ او سندرو ويلو چل ښکه ور زده کوي.

نرم بادونه د کلي د زړو او تاندو ونو څانګې ښکه له يو بل سره اشنا کوي، له بڼ ور ها خوا د غره په لمن کې له غوړېدو ګلونو ښکه خوشبويي را ټولوي او بيا يې ځومره په مهربانۍ زما پر وړکتون پاشي.

څاروي، شپانه، کوچيان، د کلي د جومات مناره، په برج ناستې کوترې، د کروندو ښکګ ته روان سيند، د ويالو د غاړو ويلني، په کروندو کې د چونګښو اوازونه، د سنځلو، منو، د رمو د شرنګانيو، ځوړوبيو او چينو شرنګا شرنګ او وږمې راته ښکه د ماشومتوب مهربانه سندرې وايي.

له مور پرته مې د ځومره، زړو، ځوانانو، بوډاګانو، تر خپلو هم نږدې پردو زما په سر د مينې او مهربانۍ لاسونه چتر کړي، په يوه درد مې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهربانۍ زرګونه خواخوږې سترګې را اوړي او په يوه موسکا مې د زرګونو څېرو پر شونډو د خوښۍ پسرلي لمنه غوړوي.

زما ورکتون د يوې دروازې پر ځای سلګونه دروازې درلودې، په هره دروازه کې راته سلګونو غېږو ځای را کړی و، سلګونو شونډو ښکلولم او د ډاليو په باران کې به ببرته خپلې دروازې ته درېدم.

هلته د څو محدود پاڼو پر ځای د مينې او مهربانۍ زرګونه کتابونه لوستل کېدل، هلته راته سلګونو ښوونکو د خپل زړه او تندي پاڼې پرانېستې وې، زما روح ته يې نامريي روزنه او پالنه ورکوله. زما له مور پرته سلګونه نورو ميندو هم زما د روښانه راتلونکي خوبونه ليدل او د اخترونو په تمه هره ورځ د اختر په څېر وه.

بهرنۍ مې په اوږه لاس کېښود، سترګې مې وغړولې، په مخامخ لګېدلي سپينه تخته يې څو کرښې ليکلې وې او د کليوالي سيمو څو انځورونه يې کښلي وو، لاس مې يې ټينګ کړ او بيا يې په هيجاني انداز راته وويل

بس همدومره، رښتيا دې وويل، له تا مننه، تا را وښودل چې ستاسې ورکتونونه څومره غني، لوی، ښکلي او مهربانه او زموږ څومره کوچني، تنګ او د ښکلو زندانونو په څېر دي.

۲۰۱۵ د سپټمبر ۱۲مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کاذب غرور

د کمزورو وزرونو خاوند ته یې وویل: ته په هوا کې تر ټولو الوتونکو د اوچت الوت حقدار یې، هېڅوک هم حق نه لري چې تر تا لوړ پرواز وکړي. هر وخت چې څوک درنه اوچت شول؛ وژل یې درته روا دي.

وزرماتي ته یې وویل: هېڅ اندېښنه مه کوه، ستا مات وزر ستا شان او دبدبه هېڅکله نه شي کمولی، د درد زغمل ستا له شان او پرتم سره نه ښايي، د وزر جوړېدو صبر ستا غرور ماتوي، که خپل مات وزر دې په بېخ کې له ځانه پرې کړې، بيا به هم د الوتونکو پاچا وې.

ښکاري ته یې وویل: صاحبه! ستا د غېښو ځلا او د لیندۍ زور د لمر روښنايي او د بادونو لوری او مسیر بدلوي، ستا حق دی چې ددې ځنګل ټول الوتونکي له خپل ذوق سره سم په پوره درناوي ښکار کړې او په کبابونو یې خپل مهربانه روح تازه کړې.

دا کیسه تر اوسه هم په دې ځنګلي بڼ کې روانه ده، دلته هر چاته خپل سیوری د خپل قد و قامت څو چنده ښکاري او د وجدان زهرجن فصل یې د کاذب غرور او ځان غوښتنې له تروو اوبو خړوبېږي.

۲۰۱۵ د اکتوبر ۱۲مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تربې سترګې

راته ويې ويل:

د فکر مرغه دې ازاد پربږده، پرېږده چې په ازاده هوا کې خپل وچ شوي وزرونه وغوړوي، خپلې زرينې او طلايي بڼکې د لمر په ځلا کې نورو ته څرګندې کړي، خو شاته يې په خپلو لاسونو کې قيچي، تور دامونه او ګڼې لومې نيولې وې.

ماته يې ويل

د انګړ دروازه دې خلاصه پربږده، پرېږده چې دا بندي ګلونه دې تازه هوا حس کړي، لارويان حيران کړي، ورمې يې په ټوله کوڅه کې خورې شي او ژبې يې په صفتونو پيل وکړي، خو خپل ګلدانونه يې په تتو ښيښې پوښونو کې ايسار کړي وو او د کور د انګړ له پاسه يې وسپنيز چتر ابښی و.

پاس اسمان ته مې وکتل، سترګې مې د لمر له رڼا ډکې کړې، ارام شوم، لکه د دښتې جل وهلی چې د يخو اوبو په چينه ور پرېوځي، غوښتل مې سترګې ورسره مخامخ کړم، تربې سترګې يې ټيټې کړم او اغوستی نقاب يې وسوځوم، خو هغه تښتی و او پلونه يې په وينو سره وو.

۲۰۱۵ د سپتمبر ۱۴مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د واکمن تصویر

د ښار په ګڼه ګوڼه کې لیکه موټر ولاړ وو. یوه کوچني ماشوم د هېواد د څو لسیزو واکمنانو د لویو او کوچنیو رنګارنګ انځورو ګېډۍ په غېږ کې نیولې وه، دوړ یې مخ بې رنګه کړی و، په نوبت سره د هر موټر څنګ ته ور نږدې کېده او بندو ښیښو ته یې تصویرونه نیول.

ټولو به لومړی انځورونو او بیا ماشوم ته بد بد وکتل، ماشوم به هم خپل انځورونه له سترګو تېر کړل، ناهیلی به شو او بیا به یې بل موټر ته لاس اوږد کړ.

د څنګ موټر نه یوه عینکي ځوان چې کاغذونه او عریضې په ګونډو ایښې وې، د موټر ښیښه ښکته کړه، ماشوم یې په اشاره د ځان خواته را وغوښت.

د ماشوم په سپېره تندي کې خوښي وځلېده، ځوان د عکسونو بنډل دزره له پاسه چاڼ کړ، د هېواد اوسنی واکمن تر ټولو لوی عکس یې په کې پیدا کړ، ماشوم ته یې له ښودلو پیسو یو څو زیاتې ورکړې، ماشوم په منډه روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان لومړی په غبرګ کې ابښو پانو ته وکتل، په یوه پاڼه یې څو لاسلیکونه له سترګو تېر کړل او بیا یې د واکمن تصویر په خپل ټول زور ومروړه، څېرې یې کړ او ټوټې یې له ښېښې لاندې وغورځېدلې.

موټرو حرکت وکړ، د خاورو او ګرد یوې کمزورې څپې د څېرې شوي تصویر ټوټې په پلې لاره خورې ورکړې کړې او د لارویانو په پښو کې ورکې شوې.

**۲۰۱۵، د اکتوبر ۲۲مه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زرین خپرکي

ته په زرو خپرو او زرو بڼو راخرګنده شوې، د زمان هرې شېبې دې د ښکلا په رنګین کتاب کې د نازونو او کرشمو لسګونه زرین خپرکي پرانېستل، خو زه زر سترګی نه وم، د هر رنګ او ښکلا مریدي مې نه وه کړې.

زما سترګو د زمان په دې پرانستي کتاب کې یوازې یوه خوږه ژبه او یو ابدي ښایست لوستی و.

زه او سترګې مې لا د یو بل په واک کې وو، زما سترګې له اوښکو او بې ساري درد ډکې وې، خو وخت لا تر اوسه ورته د بدلېدو د هنرخپرکی نه و پرانېستی او د خپل لید دایره ورته ښه خرګنده وه.

۲۰۱۵، د اکتوبر ۲مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوله او ماشوم

د پاچا ځانګړی استازی د خپلو وسله والو ساتونکو په دایره کې یوه کلیوال ښوونځي ته ورغی، په ښوونځي کې ورته ځانګړې تیاري نیول شوې وه، ماشومانو له خپلو باغونو د تازه ګلانو راوړې ګېډۍ ور وړاندې کولې او د هغه هر کلی یې کاوه.

استازی له سلام او نمایشي روغبړ وروسته د ښوونځي په دهلېز کې ابښي دریځ ته ورغی، په دېوالونو د سولې په اړه د ماشومانو په نازکو ګوتو لیکلې پردې او کاغذي ټوټې را ځوړندې وې،په ځیر ځیر یې ورته وکتل او خبرې یې پیل کړې.

موږ ټول سولې ته اړتیا لرو، سوله ژوند دی، ښکلا ده، ساه ده، زموږ د معظم پاچا هیله ده ، د ژوند یو بل نوم دی او... خبرې یې اوږدې شوې، ښوونکو ورته سرونه خوځول، خو له لومړۍ څوکۍ ورته یو وچ کلک او ځلانده سترګو خاوند زده کوونکی اوچت شو، د هغه خبرې یې پرې کړې. ښاغلیه! په دې خبرو خو زه ډېر مخکې پوهېدم، مور مې په غېږ او زانګو کې راته کړې وې، ته چې د کومې سولې خبرې کوې، هغې له ډېر پخوا نه زموږ په زړونو کې د یوې اغلې مېلمنې په توګه ژوند درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو جګړه لا پاتې ده، جګړه لا هم ستاسې په ځېر ښاغلو ته ښکلې ښکاري، مینه ورسره لري، په یوازیتوب او خیالونو کې یې پالې، مننه یې کوي چې دوی ته یې مقام او ستر نوم ورکړی. سوداګري پرې کوي، شپه له جګړې او ورځ له سولې سره تېروي.

ما ته ښکاري چې ستا او ستا د شاهي ملګرو ذهن او زړه اوس هم په جګړه پایي، سوله مو د یوې بې وزلې سوالګرې په ځېر رټلې، ستاسې دنګې ماڼۍ، جاه و جلال، سپین رنګونه، نرم لاسونه او شاهانه لباسونه د همدې جګړې له لمبو راوتلي.

تاسې ددې جګړې اور خپله بل ساتلی، نور په کې سوځي، خو تاسې یې په رڼا کې وړاندې ځئ، خپل لوری او منزل لټوئ، خپل نازولي ماشومان او مېندې ورنه لرې تښتوئ، خو مونږ په کې هره شېبه سوځو. هغوی چې ستاسې د لارې خنډ ګرځي، باید په همدې اور کې وسوځي، ستاسې له مخې چپ شي، چې هسې نه یوه ورځ ستاسې په ځېر د یوه ښکلي او ارام ژوند خوند وڅکي، ستاسې په ځېر شاهانه ژوند پیدا کړي ، ځانته دنګه ماڼۍ جوړه کړي او له جګړې یې زړه تور شي. تاسې لا تر اوسه له خپل ځان سره سوله نه ده کړې، تاسې لا د خپل ذهن د جګړې دوزخي اور نه دی مړ کړی، د نورو مرګونی درد مو خپل نه دی ګڼلی، دا خاوره مو د مغروره پلونو پر ځای په تندي او شونډو نه ده ښکلې کړې، نو څنګه به سوله خپل پاسته لاسونه ستاسې دغاړې امېل کړي!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسې ماښیو ته چې هر سهار د رنګارنګ او تازه ګلونو ګېډۍ درځي، هغه دلته زموږ پلرونه په خپلو اوښکو او خولو ... ماشوم غوښتل خپلې خبرې په لوړ غږ نورې هم وغځوي خو ماشوم ته د "بې ادبه!" او "سپين سترګيه!" نارو زور واخيست.

د پاچا استازي په خپل تندي رواني خولې پاکولې، ځينې ښوونکي د ښښې په دود ورته لاس په نامه وو، خو ماشوم هسکه غاړه نيولې وه او د پاچا د استازي له مړو سترګو يې عجيبه خوند اخيست.

۲۰۱۵ د اکتوبر ۲۱مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شکایت

اوښکې د مات اوځوربدلي زړه ژبه وي، په دې ژبه پوهېدل تورو او لفظونو ته اړتیا نه لري. هغوی چې ویښ زړه او وجدان لري، په پټو سترګو یې هم لوستلی شي، خو که زړه ماتی او ځوربدلی انسان د خپلو اوښکو په کنګل پخه ډډه ولګوي؛ نوخپله هم په دې رنه سمندر کې ډوبېږي.

د اوښکو دا ګران بیه مرغلرې باید د فکر او هوډ په کلک تار کې وپېيل شي. یوازې د نورو خواخوږي خپلول بریا نه ده، بریا په دې کې ده چې له دې نازک تاره ځنځیر جوړ شي، ظالم او اوښکي بهوونکی پرې کلک وتړل شي.

هغوی چې له ژونده د پېړیو تجربې لري، ټول په دې پوهېدلي چې غوره او خوندور کباب د سکروټو له پاسه د خپلو اوښکو په څاڅکو پخېږي او پرلپسې اوښکې یې د وریت والي سبب ګرځي.

۲۰۱۵ د اکتوبر ۳مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هیله

پولیسو د ژمي په یوه ساړه ماښام دوه کسه د کوم جرم په تور په خپله څو متره اوږده نظارت خونه کې واچول او دروازه یې پسې بنده کړه.

شپه سخته سړه او تپه تیاره وه، دواړه تورن ښه پوهېدل چې بې ګناه دي، خو له نظارت خونې یې د وتلو کومه لاره هم نشته.

یو ناهیلی شو، دور ته یې ډډه ووهله، خو بل ټوله شپه په اوږده نظارت خونه کې د کوم سوري او سوړې موندلو په لټه قدم وهلو.

هر اواز ته به څک و او هرې چولې ته به یې په دې هیله کتل چې که د یخ نه د بچ کېدو او تېښتې کومه لاره پیدا کړي.

سهار چې د پولیسو امر دروازه پرانیسته، یوه بندي له ډېرو سړو ساه ورکړې وه او دور ته شخ یخ پروت و، خو هغه چې ټوله شپه یې د خلاصون هڅه کوله، وینه یې ګرمه وه او تر اوسه یې هم د ژوند او خلاصون په هیله قدمونه وهل.

د لمر له راختلو سره یو ژوندی سړی او بل مړی له نظارت خونې ویستل شول، د ژوندي کس په لیدو د پولیسو لاسونه لړزېدل او په یخ کې خولې پرې را ماتې وې.

د نومبر ۲مه ۲۰۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توپيري تفکر

د ژوند له هرې پېښې او شېبې سره عادي يا هم يو رنګ چلند او په اړه يې يو ډول فکر کول زموږ ژوند ته بدلون نه شي ورکولی، د مازديګر د لمر لوېدو شېبه هېڅکله د سهار د لمر راختلو زرينې شېبې ته نه ده ورته. په بازار کې له خپل يوه سپين ږيري دوست سره مخامخ کېدل زموږ د يوه ځوان ملګري سره د مخاخ کېدو او خبرو اترو په څېر نه دي.

د هر څه په اړه توپيري تفکر موږ خپل ژوند او نړۍ ته زيات نږدې کوي او پوهه راکوي. د ترکاڼۍ (نجارۍ) په بازار د تېرېدو پرمهال بايد د کړکۍ جوړونکي او تابوت جوړونکي له هټۍ څخه زموږ ليدنه او اخيستنه عادي او يو ډول نه وي.

د ښکلو ماڼيو لپاره د مرمر ډبرو د فابريکې تر څنګ د شناخته جوړونکي او کتيبه ليکونکي هټۍ د کاروبار او پيسو ګټلو وسيلې دي. هغوی خپل کسب ته په يوه سترګه ګوري، خو موږ بايد خپله دويمه سترګه هم فعاله کړو او پر خپلو ټولو حواسو او احساس ورته ځير شو.

چاپېريال او ټولنه د ژوند د زده کړې لپاره پرانېستی کتاب دی، لوستل يې ژوندی حس او ويښ فکر غواړي، د لويو انسانانو د بريا راز او پيغام په همدې کې نغښتی دی.

۲۰۱۵ د اپريل ۱۷مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توپیرونه

د اختر دریمه ورځ وه، دوه ستړي ستومانه او په ګردونو لړلي کوچیان له لارې را وګرځېدل، په شنه سهار یې په تندیو د ستړیا خولې راماتې وې.

د نرډې یوه پوړیز او ساده کور دروازه یې ور ټک کړه، چای او ډوډۍ یې ترې وغوښتل، خو دروازې ته راغلي کس په بې پروایۍ بهانه ورته وکړه او منفي ځواب یې ورکړ.

ما لیدل چې له همدې کور نه هوا ته د ګرم تناره لوګي اوچتېدل او د خوندورو خوړو او پخې ډوډۍ بوی دواړو وږو لارویانو ته د کور اصلي کیسه کوله.

له دروازې ناهیلي ولاړل، د یوه بل نرډې ښکلي او نسبتا مجلل کور دروازه یې ور ټک کړه، شېبه وروسته ورته یوه کس د دېوال سیوري ته دسترخوان هوار کړ، چای، ډوډۍ او مېوه یې ورته کېښوده.

د ستړو لارویانو په تندي کې مې عجیبه رڼا او خوښي ولیده، د ارام ساه یې واخیسته، دواړه کورونه یې په بیا بیا له سترګو تېرول او له هرې مړۍ سره یې کوربه او د هغه دروازې ته د خوښۍ او مننې په انداز کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند ښېلابېلې کچې او تفاوتونه بې څه نه نه وي، شتمني او بېوزلي زمونږ له زړه او نیت سره تړلې، ځینې ټول عمر زیار و زحمت وباسي، خو ژوند یې بدلون نه کوي، ژوند تري روان وي، ځینې بیا ارام او بې زحمته عمر تېروي، خو ژوند ورپسې خپله روان وي.

هلته پوه شوم چې دا هنر یوازې په زیار او کوښښ کې نه دی، د ژوند ډېرې خوښۍ د انسان په اراده، اخلاص او نورو ته د ورکړې په صفت کې نغښتې چې مونږ پرې نه پوهېږو، خو بدله یې لس چنده او سل چنده تر لاسه کوو.

**۱۳۹۴ د اختر ۴مه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خبرې

ښوونکي مې لاس په لاس کې ټینګ کړ او راته وویل:

ځینې خبرې د شاتو په څېر خوږې وي، اوره یې، خو په خوږلت یې دومره ځان مه روږدی کوه چې یوه ورځ یې وانه ورې، نو غوږونه دې له نورو ترخو خبرو سره د نا اشنایۍ له امله په درد شي.

داسې خبرې هم شته چې د زهرو په څېر او حتی له زهرو ترخې وي، اوره یې، خو همغه شېبه یې له زړه داسې وباسه لکه هېڅ دې چې اورېدلې نه وي، دا تریخوالی ستا زړه او روح ته ربړېښې کوي او د وخت په تېرېدو دې له ځانه هم پردی کوي.

هغوی چې تاته یې ترخه خبره کړې، یو وخت یې درته په زرګونو خوږې خبرې هم کړې، څه وشول که نن یې بې ارادې یو څه له خولې راووتل او تا له ځانه دومره پردی کړ لکه هېڅ یې چې نه پېژنې.

ته یوه شه چې هغه په زړه کې د پښېمانۍ په سرو سکروټو اوړي را اوړي، خو هغه جرئت یې لا هم ندې موندلی چې تاته د بښنې لپاره راشي. ډاډمن اوسه چې دا شېبه یوه ورځ حتما را تلونکې ده.

۲۰۱۵ د نومبر ۲۲مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تاریخي پاڼه

د کلونو پخوا خبره ده، غور نیکه مې د مرګ او ژوند په کشمکش کې را ګیر و، خو تر وروستیو سلګو وړاندې یې زما نیکه ته یو لیک ورکړ او ورته وویل: زویه! په دې پاڼه کې زما د ټولو دښمنانو نومونه لیکلي دي. که غواړې چې ارام ژوند وکړې؛ نو یو په بل پسې یې له منځه یوسه.

نیکه مې لیک له ځان سره ساتلی و، کله چې هغه هم په جګړه کې د لګېدلي ټپ له امله یوه شپه د ژوند پر وروستۍ پوله ولاړ و؛ لیک یې را واخیست، څو نور نومونه یې هم په کې زیات کړل او لیک یې زما پلار ته په چوپه خوله او لړزېدلو لاسونو تسلیم کړ.

اوس هغه لیک زما له پلار سره دی او زه یې ګورم چې هره شپه ناوخته خپلې عینکې را اخلي او نوې کرښې په کې زیاتوي. زه پوهېږم چې نن یا سبا به دغه لیک له خپل وصیت سره ماته راکوي.

اوس نو زه له عجیبه ذهني جګړې سره مخ یم، ځکه زما تصمیم عجیبه او بل ډول دی، ما پرېکړه کړې چې دغه تاریخي پاڼه له یوې مخې سپینه کړم او خپل زوی ته په کې د انسان په نوم د مینې ښکلی شعر ولیکم.

۲۰۱۴ د سپمبر ۳۰مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاهانه تاج

پــه کوټــه کــې لګېــدلې ډېــوه، اوښــکې، اســویلي او ســلګۍ.
مين فکر کاوه چې همدا ژوند دی او مينه به يوه شپه خامخا ددې کوټې ور ورټکوي، خو بهر د پنځلسم سپوږمۍ وړانګو، ځلېدونکو ستورو او په دره کې خپاره شپني شور ورته د طبعيت د راز او نياز په زرو ژبو ناريې وهلې چې وه ګرانه !

را ووځه، ژوند هلته نه، دلته دی، د مينې لاره ستا د کوټې له مخې نه، بلکې ددې غرونو او ځنګلونو له منځه تېره شوې او د سهار له لمرڅرک سره پای ته رسېږي، مينه په تاپسې نه درځي، ته به په مينه پسې ځې.
مينه سوالګره نه ده چې ستا د کوټې بنده دروازه ټک ټک کړي، د هغې په سينو لاسونو کې هغه شاهانه تاج دی چې ستا لپاره يې له ځان سره راوړی.

**۲۰۱۵ د دسمبر ۵مه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سل کلن بوډا او دوې ورځې

سل کلن بوډا په ټول ژوند کې دوه ځله ښار ته راغلی و. لومړی ځل د برش کلن زلمی و، ښار ته په را رسېدو سره یې ولیدل چې ټول ښار تورو جنډو او د ویر سندرو په سر اخیستی، ټول ښاریان د پاچا تصویرونه له ځان سره وړي او په چیغو ژاړي.

وروسته خبر شو چې نن د هېواد محبوب پاچا مړ شوی، ټول خلک پرې خپه دي، په فضا کې د غم ساندې او سندرې خورې دي، هره خوا ویر او ماتم دی، ټول په دې هڅه کې دي که دغه په تابوت یې د ګلونو د یوې ګېډۍ ایښودلو ویاړ په نصیب شي. ددغه دبرش کلن کلیوال زلمي له سترګو هم ناڅاپه اوښکه وڅڅېده.

دویم ځل یې تازه په سل کلنۍ پښه ایښې وه، ښار ته په را رسېدو بیا هم تصادفاً له عجیبه پېښې سره مخ شو، ټول خلک په خوښیو او مېلو سر وو، یوازې شاهي سرتېرو په خپلو څېرو کې د غم او خپګان څرګندولو مصنوعي هڅه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان کړوسي يې په لوړ غږ په غوږ کې ورته وويل چې پاچا مړ دی، خو په مرګ يې ټول خوشحاله دي او د هېچا په لاس کې هم د ګلونو ګېډۍ او د وير جنډې نه ښکاري. بوډا وليدل چې د ټولو په شونډو د اختر د ورځې په څېر موسکا خوره ده. په سختۍ يې بې غاښو ورۍ د خندا په دود را څرګندې شوې.

په ښار کې د پخواني پاچا د مړينې ورځ او ستر ماتم يواځې همدې بوډا ته ښه په ياد و، په دې راز او ددې دوو ورځو او دوو پېښو په توپير يوازې همدا په کلي کې لوی شوی او زوړ شوی بوډا پوهېده چې د پاچا او ولس اړيکه څومره سخته او مهمه وي او دا دوې ورځې ولې يو له بل دومره توپير لري!.

۲۰۱۵ د دسمبر ۱۲مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووه ورځې، اووه فريادونه

لومړۍ ورځ – لومړی فرياد – پنجشنبه

لمر راوخوت ، زرينې وړانګې يې د ګاډي له کړکيو راپرېوتې، زه په لاره روان يم، سترګې مې برېښي، يو خواته مې غر او بل خوا مې مست روان سيند دی، د لمر وړانګې په دواړو لګېږي خو هم د سيند له زرينو څپو او هم د غرونو له ښېښيي کمرونو بېرته انعکاس کوي او زما په سترګو لګي.

بس شېبه په شېبه همدا راته وايي چې د نړۍ په يوه لرې کونج کې چې اوس يو څوک له خوبه راويښ شي او د لمر وړانګې دا پيغام ورکړي چې ګران يې په ډېر لرې سفر روان دی؛ نو څه به کوي؟ ايا د دې ټولو سزا ستا په غاړه نه ده؟ زه هم مخامخ لارې ته وګورم او له ځان سره يوازې "هو" ووايم.

دويمه ورځ – دويم فرياد – جمعه

له مودو وروسته د کور دروازې ته لنډ شوی يم، په ذهن کې مې ببلا ببل سوچونه د ماشومانو غوندې په ترپکو زځغلي راځغلي، کله وايم مور به څوک خبر وي، څوک به زبرې وربانديې کوي؟ څه به وايي؟ په کوم ځای به مې ښکل کړي له ډېرې غوسې نه خو به په مخ څپېړه نه راکوي؟

په شونډو مې موسکا خوره شي، پښه نيولې شم او زړه نازړه دروازې شرنګولو ته لاس کړم خو ناڅاپه مې يو څوک را ياد شو، ډېره لرې يوازې ناسته ده، د ماشومې غوندې يې سترګې له اوښکو ډکې او سرې دي، راپسې خپه ده او له ډېره خپګانه غوسې اخيستې، په زړه کې پټه پټه راپسې ژاړي، لاسونه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مړاوي او پښې مې سستې شي، ځای پر ځای ودرېږم او د دروازې مخکې راته ستا مړاوي څېره وخاندي.

درېيمه ورځ – دريم فرياد – شنبه

د کور په حجره کې ويده يم، سهار وختي يو ځل بيا لمر راختلی، کړکيو ته نږدې په ولاړ و ونو کې مرغان چغېږي، د کور شا ته مو د ښوونځي د ماشومانو شور ماشور دی او په شور زوږ سره په مستۍ مستۍ د ښوونځي په لور روان دي.

راته ياد شي چې زه هم يو وخت همداسې څوک وم او په دې ډله کې به مې منډې وهلې، خو هر څه پای ته رسېدلي، ډېر داسې ماشومان منډې وهي چې زما د ماشومتوب په وخت کې نه و؛ خو اوس هغوی روان دي او زه ويده يم، دروازه ټکېږي، وړوکې ورېرونه مې نارې وهي....

کاکا... کاکا پاڅه لمر راختلې!

زه هم پاڅم، سترګې وموښم، خپل ليدلی خوب بيا سترګو ته راولم، ته پرېشانه ناسته وې، زما په اړه سوچونه کوې او دوه ماشومان دې مزاحمت کوي، خو ته نه پوهېږې چې ما ته غوسه شې او که هغوی ته؟ زه هم پاڅم ته له خوبونو راووځې او ټوله کوټه ستا انځورونه ونيسي. ستا د مړاوې څېرې او خپه زړه دردونه ټوله کوټه د فرياد او خواږه درد په رنګونو وپوښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورمه ورځ – څلورم فریاد – یکشنبه

مازدیګر دی، د سیند په غاړه له خپلو ملګرو سره ناست یم، هغوی ټول راته خبرې کوي، شعرونه وایي او د فطرت د ښکلاوو په ستاینو سر دي، خو زه په چمن کې مړاوی ناست یم، پښې مې غځولې او سیند ته یوه یوه شګه غورځوم، په روانو اوبو کې کړۍ جوړوي، وړاندې ځی او ورکېږي.

کله کله کبان هم په دغه دایرو کې را ایسار شي او په ورغورځېدلې کاڼي پسې لامبو وهي. زر مې پام شي چې زموږ د ژوند نړۍ یو څپاند سمندر ته ورته ده.

زه هم یو کب یم او د یوه سپېڅلې زړه نه په را اوچتو شویو زرینو څپو کې نغښتی یم، داسې څپې چې له ما سره روانې دي او ما له تګرونو او ګردابونو ساتي، همدا څپې په اوبو کې هم ستا د ښکلا او زړه ورېمې خوروي او ما د دې لپاره هڅوي، چې یوازې ستا لپاره په مینه او ویاړ سره ژوند وکړم.

پنځمه ورځ – پنځم فریاد – دوشنبه

ماښام دی، په یوه اوچته برنډه یوازې په لمانځه ولاړ یم، هرځل ناکامه هڅه کوم چې ټول حواس، زړه او روح مې د هغو له حقیقي مالک سره ملګري کړم، خو بیا ګڼې اندیښنې او یادونه رامخکې شي، زړه او روح مې له دغه ستړې او لا یزاله هستۍ بل خوا وړي، خو یو څه تل راسره وي او بل خوا ته مې نه شي وړلای.

فکر کوم چې ډېر لرې د یوه سپېڅلي، دردېدلي مات خو روښانه او خواږه زړه ساتنه را دغاړې ده، پروردګار ته خپل ټول عجز او زاري وړاندې کړم، د دې توان او حوصله ورنه وغواړم چې په خپل دغه مسولیت کې مې کامیاب لره، خو ورسره په هره سجده کې دا شکرونه هم ادا کوم چې په یوه داسې پاک کور کې دې ځای راکړ، په کې اباد دې کړم او دې حد ته دې را ورسولم چې اوس مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پردی نه ګنیي، په درد کې راسره دردېږي او خندا کې راسره خوښ او په خندا وي.
بس په همدې توګه د ماښام لمونځ رانه د نورو معمولي وختونو څخه اوږدېږي.

شپږمه ورځ - شپږم فریاد – سه شنبه

له خپلي مورجانې سره ناست یم، دواړه د تېرو وختونو کیسې کوو، خو مور مې راته د ماشومتوب خبرې کوي، کله کله راته خاندي، شېبه وروسته زموږ خنداګانې زما وریندار ګانې اوري، په خوښۍ زموږ خواته راځي، تر څنګ مو کېني او ټول د هغې په خوا کېږي.
په همدې وخت کې زه ورنه د ځان خلاصولو هڅه کوم، له جیب نه مبایل را وباسم، روښانه یې کړم، خو بیا شبکې کار نه کوي، څپه نه لري، وړوکې وراره مې راته وایي:
کاکاجانه! طالبانو زموږ شبکې بندې کړې، زما پلار جان هم زنګ نه شي را وهلی، زه لاس اوچت کړم، له ټیو ټیو سره د صفحې په مخ لیک راځي زر یې پرانېزم، ستا لیک وي، په مینه او تلوسه یې وګورم خو زړه مې ودردېږي.
تا راته د خپل درد خبرې کړې، زړه دې یوه نوي ازمون ته پرېشانه وي، خو زه پوهېږم چې بریا به بیا هم ستا په برخه وي، زه پرېشانه شم، هغوی یو بل ته وګوري او بیا یې زما حالت په تعجب کې واچوي.
زه پوهېږم چې یو چا ته ځومره اړیم او هغې هم په ټوله نړۍ کې له هر چا وړاندې خپل فریاد ما ته کړی زر له سترګو را روانه اوښکه پاکه کړم، خو دا کار مې د درد پټولو یوه ناکامه هڅه وي.

اوومه ورځ – اوم فریاد - چهار شنبه

بیا هم د مخه ښې شېبې دي، زړه مې درد نیولی، بیا د خپلې مور مخکې ولاړ یم، لاس یې ښکلوم او په یوه سفر روانېږم، دا شېبه له ما نه تاسې ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

انځورولی شی، په تاسې ټولو به کله کله په خپل ژوند کې داسې شېبه راغلې وي چې د خپلې مورجانې مخکې ولاړ وی او مخه ښه ترې غواړی.
زه خپلې اوښکې پاکې کړم، د مور لاسونه ښکل کړم، خو په سترګو او زړه کې مې یوه نوې خوښي څرکونه وهي، پوهېږم چې دغه ټول دردونه ستا یادونه راڅخه اخلي، زه په درد کې روان یم خو دخوښۍ په لور ځم، پوهېږم چې ته مې ډېر په بې صبرۍ انتظار کوې؛ نو ځکه خو مې قدمونه ګړندي شي ، هوا ته وګورم او ستا پاک زړه ښکل کړم، زر راته څرګنده شي چې د دوو سپېڅلو زړونو تر منځ یم او دوو انسانانو د دعاګانو په وزرونو کې نغښتی.
واه! دادي را ورسېدم، اوس نو تر ټولو سخته او دردونکې شېبه ده، ځکه چې له تاسره مخامخ کېږم، رانه خپه یې او زه دې د پخلا کولو الفاظ ګورم، دا شېبه څومره رنګینه ده، کله کله وایم چې هسې نه دا هم زما د ژوند د ځینو نورو شېبو غوندې ستا یاد او یو زرین نه هېرېدونکی خوب وي.

۲۰۱۲ سپتمبر ۲۰ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور وداني

د افغانستان ملي تحريک د هېواد پال او فرهنګپال شخصيت ښاغلي (حاجي عبدالقيوم پردېس) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته يې اوږه ورکړه. ملي تحريک وياړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ يې پيل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هيله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

يو ځل بيا د دې اثر له ليکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د ليکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مينه

د افغانستان ملي تحريک

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۵۸

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**